د چین او فار موسا معضله کښې د و سا طت او صلحې لاسو نه کار کوی د کشمیر مسئله غلی ده ایران کښې نن صبا آرامی ده . مصر ، سوډان لږو ډیر په آرام شو ل داخبری د دنیا غټې غټې واقعې وې ، چه د ملګرو ملتو انجمن پکښې مو فق دی !

اوس چه د نیا ئی لږه نارامه کړیده داسرائیلو تعرضات د شمالی افریقی حوادث او د پښتو نستان انجړه خبره ده ولې سړی باید ماېوس نه او سی . لکه ښکه چه علا ئم او امارات ښر ګندوی که «د د نیا لوی دولتو نه او قوتو نه په صاف نیت او بیغرضه اراده سره په میدان کښې خپل رول ولوبوی نوارو مرو به دغه خبری هم د صلحې او سلام په احاطه کښې کراری او فیصله شی .

که لوی دولتو نه وړو دولتو سره د تعرض او بد امنی د پاره کومك او اشاره و نکړی ، او پخپله هم د جاه طلبۍ او استعمار فکر له سره و باسی ، نو دستی د نیا ګل ، او ګلزاره ده . د خدای د نیا ډیره وسیعه ده او په ډیر و نعمتو نو ډکه او معموره ده ، مګر حرص او آز چه له حاجته زیات او غیر طبیعی شی دی ، د نیا ئی په خلکو تنګه کړی او دوزخ ئی ور نه جوړ کړیدی . د تیر و دلا ئلو او تشر یحاتو ښځه ثا بته شوه چه د جنګك عوامل ، احتیاج ، جاه طلبی ، استفاده جویی ، آرام طلبی او له حا جته زیات د حیات د سویې د لوړ والی فکر دی . د تیر و دلا ئلو او د دغو اسبا بو معالجه ممکنه ده ، نو د جنګك جلو ګیری هم امکان لری ، او نا ممکن شی نه دی پاته شو داشك چه خلك وا یی چه که جنګك و نه شی د د نیا نفوس به دو مر ه

زیات شی چه دغذا مسئله به لاینحل صورت غوره کړی ، اوضرور به جنګک واقع شی . اول خو دا خبره ، نظر ددنیا طبیعی منابعو اودعلم استخرا جاتو ته ډیره لری ده او فرض کړو چه نژدی همدوی نوچه روغ جوړ ځوانان دجنګک په میدان کښې په ځجا ئعو او غیر قابل تحمل مصائبو مرګک ته ورکوو ، ولی دا فکر و نکړو چه دانسان نسل بی ضرورته ډیر نه شی . او مخه ئی و نیسو . اوداخبره دعلم دکنترول لاندې راغلی ده او دانسان دقدرت لاندې ده . آخرینه خبره چه ترټولو مهمه ده هغه داده چه هر کله جنګک په مفاد واقع کیږی او جلب دمنفعت او تفوق جویی په انسان کښې طبیعی حس دی نوزه داوایم چه دخبر رسولو او امداد باهمی حس هم په انسان کښې شته او که نه ؟ که دا حس موجود وی لکه چه هیڅوك ورنه انکار نشی کولای اوعلم دهغه وجود ثابت کړی وی ، نوولی دغه اوله غریزه په دغه دویمه سره محدوده اودفعه نکړو . که دنیا داستفاده جوئی اوخود پرستیۍ په ځای هیو منزم او انسانیت پرستی ، تعاون باهمی او استعمار په ځای دقدرت دلایتناهی خزانو څخه په ګډه او شر یکه سره استفاده خپل مرام او هدف و ګرځوی ، نوزه دایقین لرم چه دغه وخت به دجنګک مخه کاملا ونیول شی ، اودجنګک خطر به په دنیا کښې پاته نشی . ددنیا دقدیمی مفکوری خاوندان به زما دې خبری ته سرسری وګوری او باور به و نکړی ، مګر زه یوه بله هم وایم هغه دا ده چه لکه څنګه چه انسانیت او دنیا په خپل ارتقایی سیر کښې دی حد ته رارسیدلی ده ، نو آیا نور ارتقائی سیر ممکن دی او که

نه ؟ هیڅوک و یلی نشی چه نه ! نوزه په همدغه دلیل سره په زغرده ویلی شم چه دغسی ورځ را نژدی شوی ده چه انسان د جنګک فکر د هیر شوی خوب غوندې له خیاله وباسی ؛ مشرق دې حد ته ډیر نژدی شوی دی اوس مغرب ته په کار ده چه په (وتعاونو علی البر والتقوی ولا تعاونو علی الاثم والعدوان) باندې ایمان راوړی . نو دغه وخت به د جنګک احتمال ممله دنیا څخه پورته شی .

مونږ افغانی جامعه د ملګرو ملتو د لسمی سالګری په مراسمو کښی په ګرم زړه او د امید او آرزو نه په ډکو سینو سره شرکت کوو . د ملګرو ملتو تیرو خدمتو ته په درنه ستر ګه ګورو او هیله لرو چه بنی نوع څپل تفوق عملا د دغی موسسې په واسطه د حیواناتو په نورو انواعو باندې ثابت کړی ، او فکر وکړی ، هغه فائده چه په استعمار کښې ممکنه ده نسبت هغه مضارو ته چه له جنګونو او نښتو څخه انسانیت ته عائدیږی ډیره لږه ده . نو د لږی ګټې په ځای ډیر تاوان دنیا ته اړول نه دی پکار . هغه فائدی چه په تیر ولسو کالو کښې د دغی موسسی له خوا افغانستان ته د تخنیکی امداد ، د معارف ، حمایه اطفال ، د دوا ګانو د لېږلو او امراضو د جلو ګیری له خوا ، او وقتا فوقتا د غذائی کومکو له مخی رسیدلی دی د قدر دانی په ستر ګو ګورو . او د یونائټیډ نیشن له پروګرام سره چه انسانیت ته ئی مفید ګڼو د انسانی جامعی د مهذب او وفادار عضو په حیث په کامل صدق او انصاف نیت سره څپله همکاری اعلامو و !

✲ ✲ ✲ ✲

# یو پولیسی ابتکار

په انسان کښې ذکاوت او طبیعی ذهانت لوی شی دی . تعلیم هم دومره کولی شي چه دغه ذکاوت او استعداد وپښ کړی، او په کار ئې واچوی، طبیعتو نه او استعدادونه په انسانانو کښې متفاوت دی .

دچا خوردی او دچا خروار . په دغه واسطه سره دنا بغه او عادی انسان په منځ کښې فرق پیدا کیږی .

لاندی قصه تاسو دذهانت یو مثال ښیی، چه یو سړی څنګه و کولی شول چه یوه مرموزه حادثه په دری ورځو کښې کشف کړی ؟ داسړی زمونږ دوطن یو مشهور سړی دی . او قصه هم حقیقی صورت لری ، جوړه شوی نه ده .

وایی چه یو وخت یو مخورسړی دهیواد یو لوی حاکم ته راغی و یل ئې صاحب زه یو عرض لرم . حاکم ورسره په پرده کښې شو ، عارض ورته خپل کیفیت داسې ووایه چه دوه شپې او ورځې کیږی چه ښځه مې ورکه ده په هیڅ چاره ئې نه پوهیږم . دشرم خبره ده چا ته اظهار هم نشم کولی .

حاکم ورته وو یل : د ښځې سره دی ګذران څنګه ؤ هغه و یل ښه ؤ .

حاکم : کله دې واده کړی ده ؟

عارض : له یوه کاله زیاته موده نه ده شوی ، په ډیر شوق او ډیر دولت مې کور ته راوستې وه .

حاکم : کال او ګاڼه خو ورته کول ؟

عارض : هو صاحب له‌هیڅ شی څخه‌په احتیاج کښی
نـه‌وه .

حاکم : ما ته‌دښځی د کالو او ګاڼې سیا راکولی شی ؟

عارض : هو ، صاحب !

(حاکم قلم را واخست او یو یو یی هر څه ولیکل)

حاکم : زه‌غواړم چه‌تاسو کره‌ته ولاړ شم :

عارض : ښه‌ده صاحب !

(دوا ړه لاړه کور ته) :

حاکم : اجازه ده چه‌زه دښځی د کالو صندوق بیر ته
کـړم ؟

عارض : هو صاحب تاسو اختیار لرئ !

حاکم خپله سیاه د کالو سره یو په یو تطبیق کړه . فقط
یو کـمیس ئی پکښی و موند چه په سیاه کښی نه ؤ راغلی
حاکم دغه کمیس د ځانه سره را واخست او را روان شو
سړی ته یی و ویل ما ته دری ورځی مهلت را کړه حاکـم
چه کور ته راغی دښار ټول خیاطان ئی را وغوښتل و یل
ئی زه د کور د پاره دغسی یو کمیس ګنډلم ، څـوك ئـی
ګنډلی شی ؟ له دغه منځه یو ګنډو نکی و و یل : صاحب
زه ئی ګنډلی شم ؟ اودا کمیس هم ما ګنډلی دی .

حاکم و یل چـا ته دې ګـنډلی ؤ ؟ ده و و یل فلا نـی
مـنصبدا ر تـه !

حاکم ګنډو نکی رخصت کړل ، راغی تیلفون ته او
پوښتنه ئی و کړه چه پلا نی منصبدار چیر ته دی ؟ ور تـه
و و یل شوه چه‌دری ورځی کیږی چه‌هغه پلا نی ځای ته
بدل شوی ، تللی دی ، حاکم فو رآ ئی هماغه ځای لوی

منصبدار آمرته په تیلفون کښې وو یل، د سبا د همدی وخته پورې دې فورآ د دغه سړی په کور کلکه پهره ودرل شی ، چه نه څوك ورنه ووځی ، او نه ورته څوك را ننوځی .

حاکم دستی په موټر کښې سپور شو او هغه خوا ته ور روان شو .

دورکی شوی ښځی میړه یی همځان سره واخست چه ورغی او کور ئی تالاشی کړ ، ښځه ورنه را ور ته .

وایی چه حاکم سړ چه افغان ؤ ، اود افغانی ناموس او روایاتو دحفظ او ساتلو دپاره ئی دواړو ته شرعی سزاور کړه !

نو دهیواد مهمو کار دارانو دپاره تر نیکو اخلاقو وروسته دغسی ذهانت اواستعداد هم په کار دی ؟

✡✡✡✡

# داشاعر دی

زه دانه وایم چه ماته ورپی؟، بنګلې او غټې چوکۍ راکړیۍ ؟!

داشیونه دهرچانه وی په کار، او زماهم ورسره شوق نشته !

زه وایم راځی؟ چه دا فکر وکړو، چه مونږ ولی خفه یو؟ خلك یوله بله ولې ژاړی ا- او آیامونږ دانه شو کولی چه ژړیدونکی سترګې درحم او عاطفې په دسمال پاکی کړو ؟ آیادا نه شو کولی چه خفه خلك وخندوو؟

که دا ټول ممکن وی، نومونږ دمال، دولت، چوکۍ، او دبدبې دزیاتی اندازی دپاره هغه کوښښ ولی وکړو چه عمومی خپګان یو تربل زړه بداوی !

تضئیق پیدا اوز مونږ دضمیر آزادی سلبه کاندی !

ماسره دغسی آرزوګانی دی !

زه غواړم چه ددغسی آرزوګـا نو د پاره تاسو سره وغږیږم !

زه له تاسو نور څه نه غواړم، تاسو فقط زمـا خبری واوریۍ !

زه غواړم چه ستاسو په جرګو کښی تاسو سره کښینم پاځم، ځکه زماتاسو سره کاردی !

هغه څه چه په یوازی توب کښی ماته رانښکاره شوی دی، هغه ستاسو په مخکښی دایښودلو وړګڼم!

زمادا یقین دی چه ماته دا یقین بیځایه نه دی پیدا شوی!

راځۍ زما خبري واورئ که ستاسو پکښې فائده
وه، وئ منئ که نه نو په عقل او منطق ئې رد کړئ!
دا دنیا له عشقه ده، او په عشق ودانه!
هر څوك يو عشق لري.
زما عشق له تاسو سره دی!
دا خبره نا آشنا مه ګڼئ ؟!
باور وکړئ چه زه د ژړېدونکو سترګو سره ژاړم.
کوم وخت چه زه د خوشحالۍ مظهر وو ينم
خوشحالېږم!
او چه د عظمت مظاهر ګورم کله را باندې رقت او کله
تر هغه غلبه کوي! زه پوهېږم چه په دې شين آسمان، هوراه
ځمکه، ګڼو ستورو، لويو غرونو، روانو سيندونو، حيرانو
ړاګونو، شنو فصلونو، حيوانا تو او نباتا تو کښې څومره
د عبرت، جلال او جمال مناظر موجود دي!
دا موجودات ټول ګويا دي! ټول خبري کوي!
تاسو ور باندې پوهېږئ که نه ؟ راځئ چه زه تاسو ته
د ژوند او ژوندګۍ له اسرارو څخه بحث وکړم!
د عشق او مينې لو به د روښيم!
وګورئ پورته فضا څومره رنګينه، وسيعه او
حيرانوونکې ده!
راځئ چه هلته ولاړ شو!
راځئ د غره په سر وخيژو او لاندې ښارونه وګورو!
دا چه مونږ په کښې اخته يو، څومره وړې او نا څيزه
خبرې دي!

د پنځلسمې سپوږمۍ نوی سر وهلی دی ، هر څه د نسترن
په ګلانو کښې غرق دی ! فضا خاموشه ده !
راځي چه ستوروته وګورو ، او خبری ور سره و کړو !
وګوری دا دنیا څومره ښکلې او ښایسته ده !
ددی دنیا نه مخکښې او وروسته به لاڅه وو ، او وی به ؟
ګوری لږ ځان ورګار کړی او زما خبری واوری !
تاسو ولې دژوند حقیقت هیر کړیدی !
مادر پریږدی چه در سره وغږیږم !
که تاسو نشی راتلی زه به درشم !
هو ، ځما خبری واوری او فکر وربا ندی وکړی !
ځما دټولو تفکر اتو حاصل تاسی یاست !
زه تاسو غواړم !
ځکه : چه تاسو ځما قوم یاست !
او - زه په تاسو مین !
کټ مټ هماغسی لکه مورچه په اولاد مینه وی !
مهربانی وکړی ، تاسو زما خبری واوری او له ما
هغه څه مه غواړی چه زه ئې له تاسو څخه نه غواړم !!!
(په یو لوی محفل کښې یو نری سړی پاځید او دا تقریر
ئې په نرمه او رقت انګیزه لهجه واورا وه ، حاضرینو
ځینو ژړل او ځینو خندل - مګر ځینو یوتر بله وکاته .
وې ویل دروغ نه وائی په انسانانو کښې دغه مقام شته او
دسړی « شاعر » دی .) ☆☆☆ کابل ۱۳۳۴

# د پلار مرګ

مور خپلو اولادونو ته مخ راواړاوه او دژړا په لهجه ئې وویل: «اې خدایه، زه به دا دسیسۍ ځاله څه کړم؟- پلار خو ئې د دنبه کیدونه دی!» دری میاشتې کېدې چه د دې عائلې پلار نا جوړه او خلوېښت ورځې شوې وې چه کټ پوری ؤ! د دې پلار او مور څلور زامن او یوه لور درلوده، مشرئې لا چه میړانې ته نه و رسیدلی ده وویل: «ادې، نن مې بابا ډېر خراب دی ګـنه!» هغې وویل: «هو زویه، نن بیخي سترګې نه غړوی» شپه ډېره تیره وه، دغه یوه مور او پنځه تنه اولادونه په نغری را پنډ وو، بیرون د باران شرنګهار ؤ، ژمی ؤ، سا ړهٔ وو! په نغری کښې ایله دومره تودوښه موجوده وه چه ایرې ګرمې معلومېدې، او دلالت ئې کاوه چه اورخو پـکښې بل شوی دی، مګر دا ترې نه معلومېده چه کـله - او د څه د پاره! واړهٔ ماشومان چه په غم نه پوهیدل، او سپلې ئې کول، او له یخه شوړیدل یوه وویل: «ادې جانې بابا مې دې خدای جوړ کړی!» په دې وخت کښې چه د خوب چپه پری راغلې وه د مور په زنګنو ئې سر کښېښود، ویده شو. نجلۍ وویل: «ادې دا هلک به په کټ کښې وا چوم؟ -» مور ئې وویل: «څه لورې، څمله - او ورو ئې د ی هم ویده کړه» نجلۍ وویل: «ادې ما ته خوب نه راځي» مشر هلک هم وویل: «ما ته هم خوب نه راځی!» نجلۍ کوچنی هلک واخیست په کټ ئې واچاوه، دوه نور هم

چه پر ځمکه ئې سر و نه ایښې وو ، پورته ئې کړل په کټ ئې واچول . شپه تیریده ، باران په شیبو شیبو وریدو ، دنغری آخرینۍ سپرغۍ هم مخ په سړیدو وې مریض به یو، یو مکر دروند ، دروند زګیر وای کاوه ، مور به ژړل . ناست ماشومان حیران وو او د مور داوښکو سره دوی هم اوښکې تویولې !

هلك وویل : «دا شپه څومره اوږده ده ؟ کاشکې چه مونږ سره خو نن شپه بل څوك هم وای !» مور ئې وویل : «هو ، زویه ! کـلې لرې دی ، او مونږ سره نږدې همسایه نشته . څوك به مونږ سره شپه تیره کړی . ـ دې وویل : د بیـکو کس خدای دی ; زویه خدای خوشته !»

نجلۍ وویل : ادې ، کوټه ډیره سړه شوه ، د بابا بړستن به مې یخه شی !

مور : ښه ده ورشه لرې ټانټې راوړه چه لمبه وکړو .

نجلۍ : آخور کښې ټانټې نشته ، ومې کـتلې .

مور : ورشه ، د باندې چیرته خل پل پیدا کړه .

نجلۍ : ښه ده لاړه به شم ، خو . . . .

مور : خو ، نو څه ؟ - ویریږې ؟

نجلۍ : مورې ، ډیره تیاره ده ، سترګه په سترګه نه ښکاری ! روکې دې هم راسره ولاړ شی ! . . . .

مور : ښه ده . ولاړ دې شی ! «ځه زویه ، ورسره لاړ شه ، پلار دې یوازې دی زه وتلې نشم !»

په دغه شان شپه تیره شوه . دلرې ځایو څخه د آذا نو نو غږ و نه راغله . دد روازې په چاودو نو ، او روزان کښې رڼا راننوته . دلمانځه مهال ؤ او سباشو . . . د خدای کړه

دی، هرڅو مره سخت مریض چه وی، سبا مهال کښی بیداره کیږی. مریض په کټ کښی وخوځید. پرستن ئی له مخه لری کړه. په دې وخت کښی چه کوچنیان هم را پاڅیدلی وو، ور باندی راغونډ شول.

د کوچنیانو مور وویل: اوس څنګه ئی؟-مریض وویل: دغسی یم... لکه سړی ... چه په یو .... ژور کوهی .... کښی لویدلی وی .. په ځان... نه پوهیږم ....په دی کښی مشرهلك وویل: باباجانه بیګا می عجب خوب لیدلی دی!

پلار: ښه زویه ....وایه .....!

هلك: کتل می چه ستاد کټ سرته یو غټ سپین مارغـه ناست وی.

دامارغه ډیر ښکلی او ښایسته وی. چه مونږ راشو. کورو چه ته هم ښه شوی ئی! ـ هو، باباجانه والله!!!

پلار: ( په نری آواز) هوزویه .... داملك الموت... او چه ....داراشی ....نو....دژوند مشکلات...ټول. خلاص شی .... په دی خبرو باندی د اولادونـو مور پـه سورو، سورو وژړل، او کوچنیانو هم ورسره داسی چغی کړی، چه تا به ویل قیامت جوړ دی. هیڅوك نه وو چه دا محشر ئی لید لای وای.

مریضی دغـه څوخبری وکړی، او بیائی ستر ګی پټی کړی. د کوچنیانو مورور باندی پرستن راخپره کړه، او سرته ئی ناسته وه ژړل ئی، او په سوداګانو کښی غرقه وه. ناڅاپه ئی سر راپورته کړو او غټکو زامنو تـه ئی مـخ

راواړاوه، ویل ئې: بچوړو! ځئ ولاړ شئ، فلانی نامی
په فلانی ځای کښی ستاسو د پلار شاګرد دی. ورته ووائی
چه پلار مو سخت ناجوړه دی. او داهم ورتـه ووائی چه
ژر را شی !

هلکان پاڅیدل روان شول، ژمی دی، یخنی ده سوړ
باد لګیږی، دوه تنه خړه کې هلکان تولیږی، پـه لیار
کښی هر یو بل سره همدا خبری کوی چه ګوره فـلا نیه،
څنګه ښۀ به وی چه څو مونږ بیرته راځو، او بابا ښه شوی
وی! هریو وائی: هو، والله دا به څنګه ښه وی! هر یو په
خپل زړه کښی د یأس سره خـم هیلی ګـرځوی، او ځـی.
واړه واړه ماشومان کله ژاړی او کله سوالونه کوی چه
ای خدایه زمونږ پلار جوړ کې!

ډیره مسافه ئی طی کړه. د پلار شاګرد ئی ومیند هغه
ته ئی ځانونه معرفی کړل، او پیغام ئی ور ورساوه هغه
چه کوم کار په لاس درلود فوراً ئی پریښود، او د کمکیانو
سره راروان شو- ورځ تیره وه، ماښام نـزدی ؤ، وړې
وړې مرغی ء خپلو ځالو ته تلې، پوندهؤ مالونه کورونو ته
راوستل هرڅوک خپل خپل ټاټوبی ته راتلـل. هلـکان
د پلار د شاګرد سره پس له خبرداری ء، کوټی ته راننوتل.
څه ګوری ؟

د هلـکانو مور د مریض سرته ناسته ده د قرآن آیتونه
لولی. دا په یوه څنډه شوه شاګرد د استاذ په مخ راښکته
شو په همدی کښې مریض یوه اوږده ساه وایستله. شاګرد
ور باندی نور هم راښکته شو او ور غږ ئی کړو: استاذ ه!
استاذه! استاذ نور هیڅ غږ نه کاوه. شاګرد

ور باندی نور هم‌را بنکته شو ، استاذه ، ای‌زما مهربانه استاذه ، ای‌زما دپلار په ځای استاذه ، ! ـ ته لاړی »! داواړۀ ، اولادونه دې چاته پریښودل ! اوس په دې تیارۀ ماښام اوتیارۀ کوټه کښې یوه داسی ژړا انګولا جوړه شوه چه‌دآسمان ملائکو هم ورسره ژړل !

په‌دغسی شان ددغه کور پلار مړ شو !

داچه ددی کور دپاتی کسانو څه حال شو ؟ ډېر ې قصی لری : دی کښی هیڅ شك نشته چه د دنیا په دغسی انتهائی بدبختو کښی لو ئیدونکی کسان یاهیڅ نه لو ئیږی یاداسی لو ئیږی چه سرونه ئی ددنیا دلوړو غرو نو نه تیریږی دآسمان ستوروته رسیږی . ـ اوددنیا نورخلك دهغو اندازه نشی لګولای !!!

کابل ـ ۱۳۳۵

✡✡✡✡

# د ژوند مراحل

د حیات د طبیعي سائق په لار بسود نه زما په زړه کښې داشوق پیدا شو چه زه «لوی شم» ما لید ل چه د علم خاوندان به په محافلو او جرګو کښې کښېناستل، خلکو به ددوی لاسو نه ښکلول، او ددوی په پلمه به تلل، او ځکه چه د قدرت د ډیرو اسرارو د عقدو انحلال ما د علم په لاس کښې ګڼلو، نو ځکه او ورځ مې په ځان یوه کړه، ولږو، تندو او ستو مانتیا ته مې ونه کاته او د علم د تحصیل پسې مې هر ډول زحمتو نه په سر واخستل. قدرت ماسره مرسته کړې وه چه د روغو او جوړو والدینو په غیږ کښې لوی شوی وم، علم او د هوښیارو خوا خوږو پالو نکو هدایت زما صحت ته ترقي ور کړه. ځکه چه زه د فطرت په قوانینو برابر چلیدم. کوم وخت چه زه د اشیاؤ په فلسفه نه پوهیدم نو هم د فلسفې د مقتضي سره سم روان وم!

اوس ماسره دا مینه پیدا شوه چه «څه په هغه علم چه دولت ورسره نه وي» د دولت د ګټې پسې مې ملا وتړله، په کار نه شرمیدم، او له زیاره نه ډار یدم، په ګټه، لګت او بچت کښې مې توازن قائم کړ، او د پیسو دزیاتولو چارې مې وپیژندې، آخر په ما دې عشق د ومره غلبه وکړه چه دولت مې هرڅه وګڼه، او د هرڅه په مقابل کښې مې دولت ته ترجیح ور کړه!

ومې کاته چه د آسمان دروازې او د ځمکې خزانې ما ته پولې پیر ته دي، او له هرې خوا د دولتو نه او نعمتو نه را روان دي، یو ه مې دوه کیږي، او دوه مې لس کیږي،

اولس می په سلو بدلیږی ۰ بخت می و بښ دی اوچه په چپه
ئې اچوم په راسته لویږی ؛

خلك ما ته منقاد دی ، زما صفت او مداحی کوی ۰
شاعران ما ته قصیدی جوړوی ، او ادیبان می دحاتم او
دپسرلی ددرافشانی وریځی په کنایو او استعار وستائی!
ددښمنانو او بد خواهانو خولې مې ددولت په څپېړه ماتی
کړیدی ، دعیش وعشرت ناوی زما پښې مجوی! اودعظمت
اولویـی اس زما دسپارلی دپاره ملاتړله نیولی ده !

دقالینو او پشمینو په فرشو نو ناست یم مخی ته می
رنـګارنـګك چوکۍ او میـز و نه ایښی دی چه نوی
او نظر فریبه شیان پری پراته دی ۰ دنمر طلائی وړانـګی
دباغ دجګو ونو دخو کوله منځه چه دشمال په چلید و
دناز جنبش کوی ، را تېری شوی دعمارت له ښیښو
رالویدلی په فرش رقص کوی ! لاله ر و یان او سیمین
بدنان زما په مختښی ګرځی ، چاراته دبیرون نه دملاقات
دخوا هشمندانو تیکسونه راوړی ، اودچا په لاس کښی
دشب نشینۍ ددعوت لفافی دی ،زه ، ددغو سره خاندم
او ټوکی کوم !

ښځی می دشا لـه خوا په اوږو لاسونه ایښی دی ؟ او
ځامن اولو نه می په غېـږ کښې دراختلو کوشش کوی!
دشاؤخوا نه دعطر وخوشبوئی اوددباندی باغ دګلانو وږمې
کـله کـله لـکه دپیغلو په ګلېا کښې یو تر بله منګو لی
ور کوی ! زه ناست یم ، وایم : هو ، ما ته دلوئې خلورواړه
جزءه صحت ، دولت ، علم اوشهرت حاصل دی ۰ زما په
لاس کښې بلوری پیاله ده چه له سر و او بو ډکه ده ،

زه دا او به څښم خوخوند نه را کوی زه نه پوهیږم چه دا زلالدی او که جګرخون ! ما ته دا شبهه پیداشو ه چه دا به وینی وی ، زما زړه ښکته وښو ئید . ماویل چه ګوندی زما سینه تشه ده ، ما په خپله سینه لاس ووا هه احساس می کاوه چه زړه په کښی نشته . ما ته وا یسپده چه زما مانۍ دخلکو په سر ونو ولاړه ده . دغه د زیب اوز ینت مناظر راته خیا لی تصاویر ښکاره شول ، دهری تیږ ی اوخښتې نه دکو نلږو او یتیما نودژړا ژغ راته‌ځ !

زه پوه شوم چه دغه ټول مادزړه په عوض حاصل کړی دی «هغه زړه چه دقیمت یې جوهر نشته» ما ته دا ټول عبث ښکاره شول . مادخپل ګران زړه پسی داو ښکو مرغلري تو ئې کړی . پیاله می له سره تاوه کړه اوپه مخامخ ښیښو می وویشته دهغې په ترنګ لکه ویده چه وم راو یښ شوم او کتل می چه په بله د نیا کښی یم !

کابل - ۱۳۳۴

✲ ✲ ✲ ✲

# ملی ژبه او مشرق

څه د پاسه دیرش کاله کښې هغه وخت چه مونږ کو چنیان وو ، نو مونږ به په مجلسو نو اؤ جرګو کښې د مشرانو خبرو ته غوږ نیولو خلکو به ویل ترکان خراب شوی دی ، ترکان له ترکی ژبې څخه عربی لغات باسی .

چا به ویل ترکانو اذان په ترکی ژبه واړاوه داخبری به ترديږ کیدلی چه خلکو به داهم ویل چه ترکانو قرآن شریف په ترکی ژبه وګرځاوه .

مونږ واړه وو ، مونږ څه پوهیدو ؟ لږ وروسته مونږ ته داخبره معلومه شوه چه داخبری به هندی اخبارونو نشرولې اودا نوهغه وخت ؤچه په هندوستان دانګریز حکومت ؤ .

څه موده چه تیره شوه مونږ به او ریدل چه په ایران کښې (انجمن ادبی) جوړ شوی دی دا انجمن پارسی ژبه سوچه کوی ، په پارسی ژبه تالیفونه او ترجمی کوی . لغات وضع کوی او پارسی ثقافت وړاندی بیایی او تازه کوی ئی . دور ګوو اوشپوررفتارد «دکن داردو اکاډیمی» اود ډیلی د (انجمن ترقی اردو) اود اعظم ګرد (دار المصنفین) هنګامی رمونږ غوږونو ته راورسولې .

کوم وخت چه مونږ ابرخه لوستونکي او په خبره پوه شوو ، او ریدل به موچه هر کال به اتاتورك مصطفی کمال مرحوم د ترکی ژبې دلوی مجلس افتتاح پخپله کو له د ایران دادبې انجمن نوی کتابونه به مو لیدل چه درضاشاه پهلوی دایران دشهنشا ه په عکسونو به مزین وو او زمونږ لاسونوته به را رسیدل . کوم وخت چه مونږ دکتاب ، قلم اوذشعر اوادب اود حیات درجحا ناتو سره آشنا شوو ، نومونږ د مصطفی کمال دنامه سره دنا مق کمال اود رضا شاه پهلوی دنامه سره دفروغي ، رشیدیا سمی ، بهار ، حکمت اود انډیا ګور نمنټ دنامه سره دګاندی، نهرو، پټیل، ټیګور، اقبال، شبلی، سید سلیمان حالی اونورونومونه واو ریدل اوددغولیکوالوآثارموولوستل! اوس راته معلومه شو ه چه د «پښتو مرکه» «د پښتوادبی انجمن» «دپیښاور پښتو رسا له» ددنیا دکومو رجحاناتو مولود وو ؟ په دغه وخت کښې دهغه پرو پاګنډې بنیاد هم مونږ ته واضح شوچه دترکانودملی نهضت پسې به دهغو مـخا لفینو نشراوه .

دملی ژبې دغه نهضت چه په مشرق کښې دخپل تکا مل خواته روا ن دی او آخرین انعکاس یی دپښتنو په شل ملیونی سیمه کښې د(پښتو نستان) ، (خدائی خد متګار) (دپښتو ، (پښتون) ، (پښتو نخوا)، (پښتیا نا) (لوی پښتون) او (پښتو نولی) په کلماتو کښې دغوږو دپردو په واسطه دروح تارونه په اهتزاز راولی ، په مغرب کښې پنځه سوه

کاله دمخه شروع شوی او خپل معراج ته رسیدلی دی. دغه دنیاچه نن پکښی خلك داتوم، هایډرو جن او کوبالت ذری منفلقې کوی او فوق العاده کارونه ور څخه اخلی دهغه نهضت مولود ده ده چه ډیننۍ ګوئټی، اود مغرب نورو پوهانو درانسانس په واسطه منځ ته راوړی دی چه په پای کښی دغه عصر تری جوړ شو چه خلك ورته د(اټوم عصر) وائی داټوم عصر په ډیرو مرا حلو د برق، طلا او نقری له اعصارو وړاندی تللی دی «نـوادب د ټـو لـو ترقیاتو مورده لکه ادیب چه د حیات دټولو شاهکا ریو پـلار دی! !!»

✡ ✡ ✡ ✡

# د نبوغ اساسي لاري

ډاکټر (ادلر) عقیده لري چه عبقریت دمرکب النقص څخه پیداکیږي، اوداز یا توی چه ګرددعبقریت خاوندان ناقص الجسم دي کومه آسا نه خبره هم نده چـه انسان دده له نظریې څخه انکار و کړي ، ځکه چـه هغه پـه سږ ووعبقریت خاوندان بنودلي دي چه جسمي نقصان ئي درلود.

مثلاً (ډیموستیلینس) له موره تړ تړی (توتـله) پیدا ئیږي، خودغه نقص دی مجبوروی چه باید خلـکو تـه خپلی خبري القاء کړي او بالاخره دزیار او زحمت پـه اثر خطیب ګرځي، له ده څخه حکایت کوي چه په خوله کښې به ئي دسیند ګټی اوسنګري ومنلولي ، دسیـند پـه غاړه به ئي دطوفان موجونو په شورماشور کښي خطابه ورکوله .

اوس چه څوك په انګلیسی ادب کښې لوی لاس لري «شو» او«ویلز» دی، هغه څوك چه ددوی په ژوند کښې معلومات لري پوهیږي چه دنبوغ اثر ئي مرکب النقص دی .

«شو» یو ډیر ضعیف البنیه سړی دی اودده په ضعف هماغه دغوښې نه خوړل ښه دلالت کوی ، دی پخپله وائی چه دلیکنې په وخت کښې دو نه تکلیف راته پیښیږي چه زړه مې غواړی پرمخي نوشته وکړم، همداسې (ویـلز) پـه کوچینوالي کښې ویښې له خولې غورځولې خوورو سته پیاوړی ادیب شو همداسې داکټر طاها حسین دی .

خو زه پخپله دا عقیده نـلرم چه یوائحی نقص دې
دنبوغ لپاره کافی وی بلکه ډیر نور شـیز ونـه دی چه
دنقص سره ښنګك په ښنګك دنبوغ دپاره لیار بـاسی ،
کوچنی باید دژوندون شپی ورځی په هسی یومحیط کښې
تیری کړی چه دده په وجود کښې نیك اوغوره خواهشات
اوذوقونه وروزی، څـو چه نا بغـه شی . هـمدا سی
تلقین دو ړ کـتوب پـه وخـت کښې یـو لـه قـوی
عواملو اودنبوغ دلاری آذوقه بللې کیږی، یو وړوکی
ته چه دعسکری جامه ورواغستل شی، نوره په لاس کښې
ورکړی شی دغه خیال له ده سره حتماً یوه خاطره پریږدی
چه دځوانی په وخت کښې دده دمیل اوذوق سبب ګرځی
ډیر لږ به په خپل کار کښې داسی بریـا لې پیدا شی چه
دکوچینوالی په وخت کښې په ددوی زړو کښې دهماغه
کار دمیل اوذوق نهال نه وی ایښودل شوی دغه تـاجر
چه په خپل تجارت کښې لاس لری نو وړو کتوب کښې
به پلار ورته یووړوکی اوډیرساده دوکان جوړ کړی وی
هغه سړی چه کوم علم اولسان کښې تمام مها رت لری
حتماً به ئی په ماشومتوب کښې دمصورو مجلواو کتابونو
پاڼی اړولی وی، دهغوی په باره کښې به یی پوښتنی کړی
وی اودا به ورته ښکاره شوی وچه عالم ښه وی همداسی
دنبوغ له عواملو څخه دپلار هغه خبری دی چه زوی ته
ئی په کـو چینو الـی کـښې و یـلـې و ی چه تـه ښه
لیاقت او کفایت لری کلمه چه مخ په وړ اندی ځی همدا
مفکوره ورسره ساتی چه دی به لکه دپـلارو ینا ته عملا
ځان ورسوی که څه هم وخت موافقه ونکړی بیا هم دی

ځان کامیابی ته رسوی ! کوچنی او ئیږی ځو اه ده سره
دپلار دخبرو او کسب ذوق غاړه په غاړه ځی کله چه
هغه ځای ته ورسید، دکامیابی شوق ور باندی غلبه کوی
نو دیته اړ کیږی چه په ماهرانه دول سره کاروکی .
بل عامل چه دنبوغ دپاره مرسته کوی دجنسی قوی
مخ دفنو نو په خوا اړول دی ، دغه قوه دځو انی ء پـه
وخت پیغلی او ځلمی په بل حال کوی . که چیر ی وصل
شی نو هغه بند شوی قوت چه پیغله او ځلمی ئی آزرده
کاوه له منځه ځی اما که جنسی تعارف مخه و نه مو می
نو جنسی قوت دوه لاری تعقیب کوی :
۱ ـ یاعادات له ما لوفی او طبیعی توګی څخه خار ج
انحراف پیدا کوی چه دهستیر یامرض ورځنی جوړیږ ی
په تیره بیا په ښځو کښی .
۲ ـ یاهمدا قوه دښا ئسته فنو نو خوا ته چه له جما ل
سره اړه لری اوړی . دغه انصراف کله چه په غیرا نتباهی
ډول سره وی ، ځکه چه له بیلا (رټلی قوه) ځان لپا ر ه
دو تلو منفذ پیدا کوی او له خاوند څخه هغه بیقرار ی
چه له پخوانه وروته پیښه وه ، کموی . ځوان خیال کوی
چه دی له فنو نو سره لویه مینه لری ، خو په حقیقت کښی
دغه مینه هماغه دجنسی قوی مینه یعنی دپیغلی مینه ده .
دی له هری موضوع څخه دخپلی شدید ی مینی له کبله
په دغه فنی موضوع کښی زیات وخت تیر وی ځکه چه

جنسي موضوع دليدلو او کتلو له مخې له هرې موضوع
څخه دلچسپي لري . دمرمرو ښائسته تمثالونه يا د ښځو
رسااو او ظريفې څيرې ، اوداسې نور نقاشۍ کارونه
باطني عقل ته دو نه لذت بخښي چه تر جنسي لذت څخه
کموالی نلري . همدا رنګه جنسي قوه انسان د هغو
کارونو په لوري بيائي چه ظاهراً له جنسي قوت سره هيڅ
علاقه نه لري ، خو په حقيقت کښې سراسر له شوق څخه ډك
وي لکه دښو ښکلو او قصرونو جوړول ، مهم کتابونه
تاليفول ، بدني لوبې موسيقي او غزلو سره علاقه ښکاره
کول او نور .

سپورتي لوبې پخپل ماهيت کښې دهماغه حرکاتو سره
مشابهت لري چه نارينه ئې د ښځې دجلبولو دپاره
په کار اچوي لکه چه دغه وضعه دمرغانو په منځ کښې ښه
څرګنديږي ، ځيني نور لکه دقصر جوړول ، موسيقي
سره مينه درلودل دجنسي قوې سره ښکاره مناسبت لري
خو ځيني کارونه شته چه انسان ئې په يو مخ له جنسي قوې
څخه لري بولي لکه شجاعت اوځان مرګ ته ور کول
او نور ، مګر په لږ فکر سره انسان ددوی اودجنسي قوې
ترمنځ علاقه پيدا کولای شي ، که پخوا ني انسانان
ترنظر لاندې ونيسو ګورو چه ددې دواړو صفتونو عامل
همدا جنسي قوه وه . دوی چه دلاوري کوله او يائی مرګ
ته ځان سپاره يوا ځې دخپل ناموس د ساتنې لپاره وه .

او یا ددی دپاره ؤچه له بل چا ښځه کومه ښځه و تښتوی. دپورته لیکنی ښخه لوستونکی ته معلومیږی چه باید ځوان جنسی غریزی ته تر هغه تسلیم نشی څو چه دا انحراف او مرځونی دپاره ئی لاره پیدا کولای شی په دی شان چه دغو نو خواته ئی جلو تاو کړی . که چیری په هغو لاره نشی کامیاب اودده پخوانیء تربیه دو نه ظرفیت و نه لری نو لازم نه دی چه دوی واده و کړی .

اوس نو ددی خبری جرأت پیدا شو چه وو ایو دواده تاوول په یوقو م کښې نا بغه زیاتوی خو په ځنگړوری انحرافات او رنځونه هم لری ، دا زیاتوالی شو چه په جنسی لذائذو زیات مشغو لید ل هم په نو ابغو کښې کموالی راولی ، ځکه چه دغریزی نها ئی قوه طبیعی انصراف پیدا کوی نه هغه فعالیت چه پخوائی کولی شو اوس ئی نشی کولای یعنی دطبیعی منصرف په سبب اوس له جنسی مینی ښخه فنو نی مینی ته نقل نشی کو لا ی دهغو عو املو خلاصه چه دنبوغ دپاره شرطو نه دی په لاندی ډول سره لیکلی شو !

۱ـ انسان باید له کوچنیوالی ښخه مرکب النقص و لری او په هغه نقص کښې باید لوی شوی هم وی .

۲ ـ له کو چنیوالی ښخه باید دښولارو په طرف متوجه شوی وی .

۳ ـ له ښو خویو نو سره ئی لهوړ کتو به ښخه عادت نیولی وی .

۴ـ جنسی قوه ئی دفنو نو اوظریفو صنعتو نو په لوری ورگرځولی شی .

داټول په مجموعي ډول سره د نبوغ د پاره ليار باسي، که چيرې دا ټول په يو انسان کښې يو ځاى شي نبوغ څه چه په غالب ګمان سره بايد عبقريت منځ ته راشي.

دريم شرط چه له ښوخو يونو سره بايد شخص عادت ونيسي د نبوغ په ميدان کښې ښه رول لوبوي، د يو شجاع او جبون په منځ کښې توپير په حقيقت کښې هماغه د عادت توپير دى. چه يو په داسې ډول لوى شوى وي چه هر څه ته ور وړاندې شي ځواب ئې وائي او بل هغسې لوى شوى وي چه له هر څه نه ځان شاته کوي. کله کله د ذکاوت او غباوت توپير هم د عادت توپير وي. يو سړى عادت شوى وي چه هر څه ته د تعمق او دقت په سترګه ګوري او بل له هر څه نه په سرسري نظر تېرېږي، خو زموږ دا خبره له هغې خبرې سره کوم رقابت نه لري چه وائي: يو وړوکى د پيدايښت په وخت کښې داسې څيره ښکاره کوي چه ډېر تنبل او غبي وي. بل داسې ځان ځرګندوي چه ذکي وي. دا خبره صحيح ده او زموږ له ويلو سره کومه غمازي نه لري لکه چه د کامل عبقريت خاوند د پيدايښت په وخت کښې داسې معلومېږي لکه چه يومځي يو نوى ډول انسان وي.

«العقل الباطن»

* * * *

# نزاع او اختلاف

ددوه یا ډیرو کسانو په منځکښې نزاع او اختلاف دژوند له شؤناتو او دژوندګئ دشرائطو په لحاظ یو ناګزیر او دناچارۍ شی دی. اختلاف په رایه، اختلاف په مناظره، اختلاف په مفاد، اختلاف په عزت او احترام کښې دخلکو په منځکښې پېښېدونکی دی. اوس نو که اختلاف په شریفانه صورت خپل مراحل طی کړل، او جانبین مفاهمې او دفکر تبادلې ته راجع شول او داخلاقو په معیار حق او باطل وپیژندل شول، او قناعت راغی، نو بس اختلاف په اتفاق بدل شی. دغه نو هغه اختلاف دی چه زمونږ پیغمبر صلعم ورته (رحمت) ویلی دی او که چیری جانبین یایو جانب مفاهمې ته نه حاضریږی او موضوع هم داسی موضوع وی چه نه ښنل کیږی، نو په دغسی وخت کښې داختلاف لمنه اوږده شی، او اغلباً اختلاف د ښمنۍ ته منجر شی. هر کله چه د ښمنی دمفاهمې نه دانکار په سبب پیدا کیږی، نو ځکه شریعت او پښتنولی له دواړو مخالفینو څخه هغه جانب پړ ګڼی چه جرګې ته نه حاضریږی. ددنیا هوښیارانو او عقلاؤ په اکثریت او اتفاق سره دامنلی ده چه څوک جرګه نه منی نو پښیمانه کیږی به، جرګه او مفاهمه رد کول دبد باطنۍ اغراضو او پټ خبث ښکاره دلیل دی. دا کار هغه کسان کوی چه یا ډیر زور وروی یا داسی اغراض لری چه په ښکاره ئی په خلکو نشی منلای نو غواړی چه په دسیسه او چل ول خپل مطالب په جمعیت تحمیل کړی

اوډخلکو په ستر ګو کښې خاورې واچوي . د پښتنو په
اصطلاح چه څوك جرګې ته حاضر نه شي نو بس ددهٔ ملامتې ۶
همدغه لوې دلیل حسابیږي . اوډا خبره یو نفسي توجیه
هم لري ، ځکه حضرت پیغامبر صلعم ویلي دي چه «خائن
خائف وي» نو هغه سړی چه هغه څه خبث او خیانت لري
نو له دې ویرې چه دغه خیانت ئې څرګند نه شي ، جرګې
او سپینا وې ته ړوه نه پړدي . ولی چه جرګه کښې خو سپینې
او په ډاګه خبرې کیږي ، نو دسائس پټ نشي پاتې کیداې
نو بس دالوې امتحان او تجربه ده چه څوك جرګې ته را نغی
ملامته او پړ دي .

نـزاع او اخـتـلا ف طبعاً مـنـ مـو م شي د ي ،
نو داسې به هیڅوك نه وي چه دې په نزاع او اختلا ف فقط
د نزاع او اختلاف دپاره خوښ وي ، نزاع او اختلاف په
هر شي کښې چه وي اوډهر مقصد دپاره چه وي خو په ادامه
ئې څوك راضي نه وي ، مګر د اختلاف ددوام او په دښمنۍ ۶
بدلیدو یې لوې باعث دانسانا نو خود بیني اوخودخواهي
وي ، اکثره داسې کیږي چه ، په جـدا نبینو کښې
دا خواهش موجود وي چه اختلاف باید رفع شي ، مګر
داچه څنګه یو سړی په خپل قصور او عیب اعتراف وکړي ،
یا څنګه له خپلو اغراضو تیر شي ، یا څنګه سبقت وکړي ،
او خپل جانب ته دا ثابته کړي چه زه حق او حقیقت ته
راجع شوی یم ، نو په دغو دلائلو ځان بې خبره ، ناواقفه ،

بې پروا او نا انګا ره اچوی ، نو په دغه شان سره اختلاف
پاتې کېږی او چه پاتې شی نو اغلباً ټینګېږی هم ، له دغه
کبله حضرت پېغمبر صلعم ددری ورځو نه زیاته کینه
ساتل ډېر بد ګڼلی دی او هغه چاته یې ښه ویلی دی چه
په سلام او کلام او نیکۍ کښې سبقت کوی تأسف دی چه
ددی عصر خلک سره ؛ ددی چه په باطل صورت اختلاف کولی
شی ، نو سلام او کلام هم په دروغو کولی خپل او خبث
ډېره موده پټ ساتلی شی . هو ، تمام عمر ئې پټ نشی
ساتلای ، او په آخره کښې ښکاره کېږی !

✲✲✲✲

# د فردي او اجتماعي ګناه فرق

ګناه یا جرم، هغه حرکت یا فعل ته وایي چه د قانوني حدودو یا اخلاقي مقرراتو له چوکاټه وتلي او د تېرې حد ته رسېدلی وي .

قانون او اخلاق د جهان په مخ یو متحد الشکل او متحد المآل دساتیر نه لري . د دنیا د اقوامو او مللو قوانین او اخلاق یو تر بله د دیانت ، عاداتو او رسومو په لحاظ فرق لري ، نو ځکه کېدی شي چه یو شی په یو لحاظ او له یوې نقطهٔ نګاه څخه جرم او له بلې خوا او بلې نقطهٔ نظر څخه ثواب یا مباح وي . ولی په عین کښې داسې اشیاء هم شته چه په انساني نظر سره ګناه یا ثواب وګڼل شي . خو په هر صورت زه غواړم چه په هغه اساس وګرځېږم او بحث وکړم چه په هغه اساس دخبرې او مسئلې فهم آسان شي ، یعنې زه داسلام د دیانت د حدودو په بنیاد غواړم چه خیږ نه وکړم او مثالونه راوړم .

زمونږ لیکوالو ✻ د فردي او اجتماعي ګناه په متعلق چه څه لیکلي دي د هغو ټولو څخه دا څرګندېږي چه ټولې ګناه ګاني اجتماعي دي ، او فردي ګناه د سره شته دي نه مګر ګله ګله ډېر فکر هم یو شی له سړي څخه ورک کوي لکه چه عدم فکر یې ورک کوي . فرد په تصور او وجود کښې له اجتماع څخه بېل دی که نه ؟ - د فرد او

---

✻ دا مقاله د زیری جریدې د یوې اقتراح به لړ کښې لیکل شوې ده . «خادم»

اجتماع حوائج او ضروریات یو تر بله سره فرق کوی که نه ؟ دفرد اوجماعت روح سره تفاوت لری او که نه ؟ دفرد اوډلی دپاره اصول اوقوانین یودی که بیل بیل ؟ هیڅوك ولو که ډیر زور ولګوی نه شی کولی چه په دغو مواردو کښې فرد او جماعت سره یو کړی . دډا کټر ګوستاو لو بون روح الاجتماع کتاب وګوری ، هغه وایی چه افلاطون هم داجتماع دتاثیر لاندی دیو جاهل او بدوی انسان غوندی حرکات کوی . که دفرد اوجماعت حوائج او ضروریات یووای نو تاسو به غل ، راهزن او رشوت خورته ولی بدویل ؟ اودا ځکه چه دوی ځان ته فایده رسولی ده . مګر جامعی ته یی ضرر رسولی دی . دډیرو حقوق تلفول یاډیروته آزار رسول دجامعی زیان دی . که څوك داوایی چه یو کس دفردی ګناه په صورت کښې جامعی ته زیان رسوی نودا ګناه اجتماعی شوه ، ځکه چه دافرد دجامعی جزء دی . نوداخبره چه ددادی دپاره چه که یوفرد ځان ته فائده رسوی په دغه صورت بایدهغه هم دجامعی فائده و ګڼلی شی . ځکه چه دغه فرد دجامعی جزءدی ، نوغل اورشوت خور باید معاف یانیکو کار وبلل شی . مګر خبره دلته ده چه فرد اوجامعه بل شیونه دی ظالم ، جابر ، متعدی ، مستبد ځکه ډیرغټ ګناه ګاران حسابیږی چه ددوی دګناه بدتاثیر ډیروته رسیږی نودا اجتماعی ګناه ګاران دی که یوسړی مثلاً داسی یو کار کوی چه خاص دده صحت خراب کړی یادهغه مقرراتو څخه انحراف وکړی چه تاثیرئی تنهااوده ته راجع وی ، نودی شخصی ګناه ګار ګڼل

کیږي لکه مثلاً لمونځ ئې ترک کړ، یائې ډېره وخوړه ناجوړه شو؛ مګر که په خپل اقتدار خلک ړند وي، له خلکو مال اخلي او د خلکو د ارتقاء مانع کېږي، نو دی د هغه شراب خور سره کله په ګناه کښې برابر دی چه د روازی ځان پسې تړي او د شرابو نشه کوي.

په هر صورت: ګناه او ثواب دواړه شخصي او اجتماعي کیدی شي او شته دي هره ګناه او هر ثواب چه ساحه یې ارته وي په هماغه اندازه د هغه قیمت ته کتل کیږي.

مجاهد، غازي، عالم، مبلغ، منصف له هغو کسانو څخه چه یوازي ښه خبره کوي، یا یوازي لږه مړی ورکوي په ثواب کښې ځکه زیات دي چه د دوی د عمل ښه تاثیر ډیر و خلقو ته رسیږي په یو حدیث کښې راغلي (د قیامت په ورځ به د علماوو سیاهي د غازیانو د وینو سره وتلل شي، او دا به ور باندې درنه وخیژي) مګر دا کوم علماء دي؟ د ارشو تخوا ره قاضیا نه دي. دا هغه علماء دي چه په خپل قلم یعنې حق ګوئي او حق نمائي سره اقوام او ملتو ته ژوندي کوي او خیر ور رسوي، په دې ثواب کښې حق ګو یه علماء، شعراء، مشران او رهنمایان داخلیږي. ما ته یوه ورځ یو لوی عالم وویل: فکر دی

کړی دی چه اسلام اجتماعی عبادت په فردی عبادت
باندی مقدم ګڼلی دی . لکه دغزا په وخت کښې چه لمونځ
تغییر یږی ، او د خندق په غزا کښې څو لمونځونه قضاهم
شول ، زه ملتفت شوم ، او دا خبره حقه ده . نو فردی او
اجتماعی ګناه او ثواب شته او مدارج یې هم معلوم دی .

☆ ☆ ☆ ☆ ☆

# د کمال اتاتورك يو تقرير

كمال اتاتورك په خپله يوه وينا كښي وويل : يوه زمانه وه چه ما به ډير كتابونه لوستل - غرض مي دا و چه ددنيا لوی لوی مفكرين او فلسفيان دژوند متعلق څه وايي ؟ بعضي فلسفيان چه په ژوند كښي په هرلور تيارهٔ وينی وايي چه زمونږ هستي نيست ده زمونږ دپاره ددنيا په عارض ژوند كښي لههيڅ قسمه خوشحالي نشته خو ځيني نورو هو ښيا رانو خلكو د ژوند متعلق پـه بل شان اظـهار كـړی دی .

هغوی وايي كه دژوند انجام نشت دی نودا دنااميدیٔ خبره نهده - څومره پوری چه موتږ ژوندی يوخپل ژوند پهخوشحالیٔ اوپهخندا تيرول په كار دی .

زه پخپله د ژوند دا ورستي مفهوم خو ښوم - البته دژوند دتيرولو طريقه زما خپلهده .

زما خيال دی چه هغه سړی ډير بد قسمتدی څوك چه خيال كوی چه دانسان دټول ژوند دارو مدار پهماموقوف دی يعني نورخلق دیما دپاره ژوند وكړی .

دا ظاهره ده چهددی سړی انفرادی ژوند به ډير زر تباهشي خپل ځان هيرول اوډ مو جوده او درا تلونكی نسل د پاره تعـميری كـار كـول په اصـلی مـعنی كـښی

دخو شحالۍ د حصول ړومبنی رازدی .

دعقل او هوش خاوند په مدعا نښه پوهیدی شی چه په ژوند کښې دپوره پوره خوشحالۍ دحاصلولو بیشك او بیشك چه بس یوه طریقه ده اوهغه داچه سړی دراتلونکی نسل دعزت او خوشالۍ حا صلولو دپاره ژوندتیر کړی. کوم سړی چه په ژوند کښې لهدی قسمه رویه اختیار کړی نو هغه دی هیڅری دځان نه دا نه پوښتی چه آیا هغه را تلونکی نسلونه چه دچا دښیګڼې دپاره ما په ځان شپه او ورځ یوه کړیده ، زما په ښو بهقایل وی ، او که نه زما دکا رقدر بهونه کړی ؟ زما خیال دی چه ټولو کښې خوش قسمته خلق هغهدی ، چه خپلهزرینه کار نامه اوښه اعمال درا تلونکی نسل د نظر نه پټ سا تی ځکهچه د خپل نوم ناموس دپاره دقوم اودوطن خدمت کول دخوشحالی سبب نهشی جوړیدای ، البتههر سړی ته دخهکار په کولو کښې خوشحالۍ حا صلیږی ، ځینی خلکو ته باغبانی خوند ور کوی ځینی نوروته مالیاری اوګلونه کرل او پالل مزه ور کوی ، اوځینی خلك داسی هم شته ، چههغوی ته دخلکو پالل ، ساتل او لویول دخوشحالۍ باعثوی .

کوم سړی چهدشوق اوخو شحالۍ دپاره ګلونه کری او پالی ئې ، هغه ته ګلونه نورڅه ور کوی ؟ خو صرف ګلونه کرل او پالل او هغوته کتل دهغه دخو شالۍ سبب وی .دغهشان چه کوم خلك دخلکودپاللو مالیا ری

په سر اخلی ، ئو هغو ته په کاردی چه د ګډلو نو د مالیا ر
دذهنیت په مطابق خپل کار وکړی ، صر ف د غه قسم خلك
دخپل وطن اوقوم په اصلی معنو کښی خدمت کولی شی
د نامه اوشهرت اودمالی مفاد اودذاتی عهدو خواهشمند
خود غرضه دی . دقوم خادم نـه دی ، څـوك چه خـپلی
خو شحالیٔ اوخپل مفاد ته دقوم اودوطن په خوشحالیٔ
ترجیح ور کوی ، اوخپله خوشالی ور له دقوم دخوشحالیٔ
نه زیاته مرغوبه ښکاری ، نو داسی خلق که هلو د قوم
خامان هم شی ، نو هیڅ د کار خلك نه وی .

اوداسی خلك هم څوك چه ځان ته ډیر قیمت ور کوی اود
هغو خیال وی چه دوطن اودقوم دمفاد اودخوشحالیٔ مکان
دهغوی په سر تینګ دی ـ په حقیقی معنو کښی د قوم او
وطن دمفاد سبب نه شی جوړیدای صـرف هغه خلك څوك
چه خپل ژ وند د راتلو نکو نسلو نو ، دمفاد او خوشحا لیٔ
دپاره وقف کړی ـ اوځا ن په لیس بشیٔ شمار کـړی ـ په
اصلی معنو کښی دخپل نسل خدمت کولی شی .
دا یوه لو یه غلطی ده ـ که یو قومی کار کن خیال کوی ـ
چه دقوم د ترقی اومفاد بوټی چه دهغه په لاس زر غـون
شوی دی ـ دهغه دژوند نه پسته به بی خصما نی پاتی شی او
وچ به شی ـ درو غ نیتی سړی دلاسه لګیدلی بوټی دزمانی
دحوادثو باد بارانو نه اوطوفانو نه نه شی بربادولی هغه
به همیش اوهمیش شین ولاړ وی .

تر اوسه پوری ما په یو نسل کښې دیوفـرد داوسیدو په طریقه بحث کولو، خو نن ورځ ددنیا د ترقی او د اتحاد درخ نه معلومیږی- چه دځمکې دمختلفو تیو اوسیدونکی ټول کوښښ کوی- چه یو بل سره دوروَر ولی او داتحاد خپلولی وساتی -په دې سبب سړی ته په کاردی چه د خپل قوم دترقۍ اودمفاد دخیال سره دنورې دنیا دترقۍ او دامن خیال هم ولری- نن ورځ ددنیا دټولوهـوښیا رو خلکو داخیادی چه ددنیا دټولو اقوامو دامن او خوشحالۍ ساتل یو مبارك او خیال دی او په حقیقت کښې دادخپل وطن دخلکو دخدمت یوه ښه طریقه ده. کهددنیادمختلفوقومونو ترمینځ دامن، داتحاد او ښه سلوك رشته او خپلولی قائمه نه وی، نو یوقوم ځان ته امن اوخوشحالی نه شی حاصلولی ددی دپاره دخپل قوم دمحبت په خاطـر زه ددنیا دنـورو قومونو سره هم داتحاد او اتفاق رشته ساتم.

دیو قوم رښتینی مشر همیشه خواهش لـری، چه د خپل قوم دتعمیر په خیال کښې یوه نما یا نه حصه واخلی، خوهغه هیچرې دا نه غواړی، چه دنورو قومونو پـه تعمیری کـار کښې خلل انداز شی ددنیا دواقعا تو نه ظاهره ده چه یـو آفت یا بلا چه په یوقوم نازله شی، اکثر نورقومونه هم په مصیبت کښې واچوی. دانسان ژوند لکه دیو جسم غوندی دی، د دنیا قومونه د یـو جسم اندامونه دی، چه دجسم یو اندام نقصانی شی نوټول جسم نقصانی شی.

«ترك» اودهغوی دوستان نن دخدای په فضل سره په طاقت کښې دی او په خپلو پښو دریدای شی، مونږ له هیچا نه له هیڅ قسمه طمع نه لرو، په دې وجه مونږ ته موقع ده، چه ددنیا په

واقعاتو په سړه سینه غور وکړو. مونږ په هغه خلکو کښې نه یو چه په ږکه خوله وایی چه د دنیا په هغې حصې کښې یا د غی حصی کښې که بې قراری ده، یا جنګ دی یا جنګړه ده نو زمونږ پرې څه؟

د دنیا په هره حصه کښې چه بدامنی پیداشی، نو هغی ته دومره توجه کول په کار دی، لکه څنګه چه د سړی په خپل وطن کښې ګډبړ وی دا یو داسې اصول دی- چه د دنیا قومونه او د دنیا حکومتونه د خو د غرضې نه خلاصو لی شی.

د سړی اول فرض خپل کور جوړول دی، چه خپل کور جوړ شی- نو بیا د ټو لی دنیا د کور جوړو لو فکر په کار دی.

☼ ☼ ☼

# دشیر شاه سوری اخلاق

دشیر شاه اصل نوم فریدخـان ؤ ۰ ده په ۱۴۵۰ ع کال د خپل پلار نیکه په جاګیر سهسرام کښی ستر ګی وغړولې د پلار نوم ئی حسن خان ؤ ۰

حسن خان ډیرې اصیلی او وینځی ښځې لرلې ، خو فرید او نظام دیوی پښتنې مورځخه زیږیدلی وو ۰

دشیر شاه نیکه ابراهیم خان سوری نومیدو ، سوری او غوری کورنۍ تقریباً سره یوشی دی ۰ د غوریانو دعروج په وخت کښی دغور د پښتنی کهول ډیر مشهور خلك دافغانستان له غرنۍ ځمکی ځخه راغلی دا با سیند نه پوری راووړې آن تر بنګاله میشت وو ۰ ابراهیم خان په پیښور کښی او سیدو ، خو چه د غوریانو د بخت لمر پریووت ، نو ابراهیم خان سوری له پښاور نه هند ته لاړ او هلته دسلطان بهلول لودی سره نوکر شو ۰ په لږه موده کښی یی د بادشاه باور دځـان پـه بـاب پیدا کـړو ۰ نو بـادشاه ده ده دښه خدمتو په صله کښی ده ته دسهسرام ، با نهه حاجی پور ، او خاص پور ، پرګـنی په جاګیر کښی ورکړی ۰

دا هغه وخت ؤ چه دهندوستان دسیاست د سطرنج په تخته په کشمیر کښی سلطان زین العابدین ، ملتا ن کښی سلطان یوسف ، مالوه کښی علاؤالدین ، چو نپور کښی

سلطان ابراهیم، دسلطنت لوبې کولې، اوسلطان بهلول لودی په ټولو کښې اوچت ؤ. خو له بده بخته په دغه پښتنو بادشاهانو کښې اختلاف ؤ او بالاخره دا اختلاف په نفاق بدل شو او کورنۍ دښمنۍ دې حدته ورسیده چه له دغه مینځه یو نفر پښتون چه یوسف خېل ئې باله او په خان خانان ملقب ؤ، کابل ته په بابر پسې ولاړ. او مغول بابر بادشاه ته ئې په سلطان ابراهیم لودی باندې دیرغل کولو لارې چارې وروښودې، او ترغیب ئې ور کړ. چه څو ددغه کورنۍ د نفاق او ملي خیانت په نتیجه کښې دسلطان بهلول لودی نمسی، او دسلطان سکندر لودی زوی، سلطان ابراهیم لودی دپانی پت په میدان کښې په ډیره ځوانمردۍ او میړانه دمغولو سره په جنګ کښې په شهادت ورسید.

اوس به بیرته دفریدخان یعنی شیرشاه دکوچنی توب حال ته ورو ګرځو. شیرشاه کښې له کوچنیوالی څخه دلویۍ نښې څرګندې وې. نو ځکه دمیرېبدی را تلو. په دغه سبب له پلاره مرور شو او دجونپور حاکم جلال خان ته ورغی. هلته یې دنوکرۍ سره له قاضي شهاب الدین څخه کافیه، دفقې کتابونه، تاریخ او فلسفه، ولوستل. څه موده پس دده پلار جونپور ته راغی او جلال خان دغه پلار او زوی سره پخلا کړل او فرید خان خپل جاګیر ته راغی او دځمکو ډېر ښه انتظام ئې وکړ. خلکو به دده صفتونه کول او په میړۍ ئې بد لګیدل. چه څو بیا د ده اوقات ترخه شول او دخپل سکه ورور نظام سره دسلطان سکندر لودی یو حاکم دولت خان له بهار ته ورغی.

دحسن خان دمرګك نه وروسته د همد غه دو لت خا ن په واسطه دفريد خان دپلار جايداد دده په نامه شو .

کوم وخت چه سلطان ابراهيم لودی دبا بر له پلو ه په پانی پت کښې ووژل شو اوهر ځای مغو لی حاکما ن مقرر شول ، نوفريدخان کـلهٔد بها ردحاکم سلطا ن محمد اوکـله دمانـکور دحاکم سلطان جنيد برلاس سره نوکر ؤ يووخت چه دښکار په موقع يوزمری په سلطا ن محمد حمله وکړه اودده هغه په توره دوه نيمه کړ نو سلطا ن محمد ورته شيرخان لقب ورکړ . او بيا وروسته دبر لا س پـه ذريعه دبا بر شاه ملاقات ته ورسيد او با بر دی په شاهی فوځ کښې داخل کړو . با بر سره ئی ښه خدمت کا وه خو آخر په منځکښې بدګما نی پيدا شوه . وايی چه شيرخان کوم وخت ويلی وو «ای پښتنو که بخت ماسره ياری و کړ ی نو لږه موده کښې به مغول له هنده وشړم ځکه چه په تو ره کښې پښتا نه له مغولو ډير ميړ نی دی . پښتا نه بی اتفاقیٔ برباد کړی دی . ما مغول ليد لی دی چه په جنګك کښې دټينګيدو نه دی دوی په مزو اوچړ چو کښې ډوب دی . ټول کـاروونه وزيران او اميران کوی . وزيران داميرا نو نه ، او امير ان دسپا يا نو نه اوسپا يان دعام ولس نه رشوت ا خلی . »
شيرشاه ويلی وو ژر به واوریٔ چه «ما پښتا نه را غو نډ

او په اتفاق کړی دی او سلطنت مې له مغو لو اخستی دی.»

شیر خان و لاړ . او څه موده پس د بهار حاکم سلطان محمد سره نوکر شو چه سلطان محمد وفات شو . نوزوی ئې چه جلال خان نومیدو او پلار ئې دشیرخان په تربیت کښې ورکړی ؤ ، اودی لاوړوکی ؤ ، چه دپلار پرځای کښیناست ، نو دحکومت کارو بار ټول شیرخان کاوه .

د بنګال دباد شاه سلطان محمو دیو حاکم چه په حاجی پور کښې ؤ او مخدوم عالم ئې باله ؛ دده سره دشیرخان اشنائی پیدا شوه . په دی باندی سلطان محمود د بنګال بادشاه ته قهر ورغی ، اوخپل بل یو حاکم د مونګیر حکمران قطب خان ته یې امر وکړ چه شیرخان او مخدوم عالم دواړه لاس تړلی ما ته را و له شیر خان ډیره سعیه اوزاری وکړه چه جنګ وا قع نشی . او پښتانه او بنګالیان تباه نشی ، خو و نشوه آخر جنګ وشو قطب خان پکښې مړشو . اودشیر شان په لاس دغنیمت ډیر مال ورغی . ددینه وروسته سلطان محمود د بنګال بادشاه خپل زوی جنګ ته راولیږه چه هغه هم په کښې مړ شو .

دچنار ګړ باد شاهی دسلطان سکندر لودی دکورنی ؛

دیو شاهزاده سره وه چه نوم ئی تاجخان ؤ . تاجخان دکوورنیء پهیوه اله ګوله کښې مړ شو . دتاج خان دښځی لاډو بی بی وروراميراحمد خان شیرخان ته وویل چه چنار ګړ واخله، اودا کاروشو. له دینه پس د چتوړ بادشاه سلطان محمود لودی د لوا ښیانو په لمسون په شیرخان پسی دلښکر تیاری وکړ . خوچه د بهار پښتانه دشیرخان سره ملګری شول ، نوشیر خان د پښتنو په صلا دسلطان محمود لودی اطاعت ته غاړه کښېښوده . په دغه وخت کښی دسلطان محمود لودی اوهمایون په منځکښې جنګ وشو . سلطان محمود ماتی وکړه . بیا همایون په شیرخان پسې خپل سپه سالار هندوبیګ ته ؤلیږه چه چنار ګړو وهی . مګر دهمایون سپه سالار نا کام راستون شو . دینه وروسته همایون خپله د لوی فوځ سره دچنار ګړ جنګ ته ولاړ اودغه ځمکه یی له شیرخانه ونیوه . اوس نو دشیرخان اوهمایون په منځکښی مخامخ زور ازمائی شروع شوه .

لومړی خودشیر خان مطلب دا ؤ چه دپښتنو اومغولو لاسونه یودبل په وینوسره نشی ، خوچه دا کار نه کید و، نوشیر خان پښتانه میدان ته راوا یستل شیرخان په۱۴۳۵ع کښی دبنارس ښار واخیست .همایون دډیری پریشانیء

پەحال کښې آ ګرى تەولاړ پەدغە وخت کښې دهمايون
لەخوا دمنګير پەښار ملى خائن يوسف خيل خانخانان
چەبابر پسې کابل تە تللى ؤ، ګورنر مقررؤ. دشيرخان
جرنيل خواص خان يوسف خيل خائن لاس تړلى دشيرخان
حضورتە حاضر کړو. شيرخان پەهره خوا پښتانە جرنيلان
مقرر کړل. مثلاهيبت خان نيازى اودە تە، جلال خان
لکهنوتە، قطب خان چونپور تە، نصيب خان مانګهور
اوحاجى خان قنوج تە ولاړل. دغە ټول جرنيلان د فتحى
دنغارو سره شيرخان تە راستانە شول درهتاس پەجګړه
کښې دهمايون اوشيرخان سختە مقابلە وشوه همايون
فاحش شکست وخوړ. مغول داسى وتښتيدل لکه ماشى
دبادنە آسونە، پيلان د جنګ سامان هرڅەيى پەځاى
پرېښودل. تردى چە دهمايون ښځى هم پە ميدان پاتى
شوى. دشيرشاه چەپە شاهى حرمستر ګى ولګيدى فوراً
لەآسە راکوز شو، هغوى تەئى پاڅ ورکړ، بيايى دوه
رکعتە نفل وکړل. اوپە حمد اوثنا کښې يى سر پەسجده
کښېښود اووئى وبل: «اى خدايا! قوة اولوئى تالره
ښايى. تە بىزواله بادشاه ئى، تازما عاجز سرجګ کړو.
فتح دى ځماپە نصيب کړه دهمايون بادشاه لښکر، مال او
عيال دى ماتە پەلاس راکړل. خير ستاپە لاس کښى دى
اوتە پەهرڅە قادرئى». بيايى حکم وکړو چە دمغولو

کوچنیان اوښځی په احترام بیر ته ورو رسوی؛ نو همدغسی یی وکړه او خپل زوی جرنیل : حسین نامی په معرفت ئی حرمسرای په ښه صورت همایون ته ورسولو . تردغه وخته شیرخان ځان بادشاه نه ګڼلو دغه فتحی نه وروسته یوه ورځ مسند عالی عیسی خان ټول جرنیلان را غونډ کړل او دشیرخان په حضور ئی داسی عرض وکړ : "ای زموږ مشره ! موږ پوهیږو چه ستاسو نیت دبادشاهی؛ نه دی . خو باد شاهی دخدای لوی نعمت دی . او ستاسو په شخصیت کښی دباد شاهی ټول صفتونه موجود دی بی اتفا قه او تار په تار پښتانه ستاسو په برکت یوه لړی؛ شوی دی . دښمنی او تر بګینی لرې شوې ده اوس ټول پښتانه یوشوی دی. په اتفاق کښی لوی برکت دی دسلطان ابراهیم دوخت داختلاف او نفاق پیغور رونه چه هر چا به پښتانه بد ګڼل اوهرځای ته به چه پښتانه ورتلل ، خلکو به ورته ویل تاسو هغه خلک ئی چه خپل حکومت مو برباد کړ اوس موږ بربادوی؛ داخبری له منځه ولاړی اوس خلک پښتنو ته په درنه سترګه ګوری . اودا ټول ستاسو په سعیه او کوشش وشول اوس بسم الله کړی؛ اودباد شاهی؛ بار په خپلو اوږو واخلی؛ ! کوم قامچه بادشاه نه لری ، نوم نښان نه لری دا پښتانه چه تاسو بیداره کړی دی په ټینګه

به‌ستاسو ملاتړ وکړی ! »ددی تقریر نه وروسته عظیم‌خان
شروانی پور ته‌شو اودایی وویل : زمونږ مشره ! مغولو
خپل ځان ډیر اوچت ګڼلو پښتانه ئی هلوسړی نه ګڼل
ددوی سترګی له پښتنو څخه نه‌سوې ، تاسودمغولو دسرنه
دغه نشه کوزه کړه . په‌هر جنګ کښی مغولو ماتی وکړه
اوس دوی دجنګ توفیق نه‌لری . ملك دخدای دی چه
هرچا ته‌ئی چه‌خوښه‌شی ورکوی ئی پښتانه به‌ستاسو دتخت
نه ځانونه قربان کړی!» دسردارانو په‌ډیر اصرارشیرخان
بادشاهی قبوله کړه ، اود شیرشاه لقب ئی‌ځان ته‌غوره
کړو ، دعاشوری په‌لسم تاریخ دهجرت به۹۴۷ کال دشیرشاه
اوهمایون آخری لو یه نښته وشو ه . د قنوج په څمکه
دګنګا په‌غاړه شیرشاه خپل لښکر داسی برابر کړو چه
دلښکر په‌مخکښی پخپله شیر شاه ولاړ ؤ چه هیبت خا ن
نیازی ، عیسی خان شروانی ، قطب خان لودی ، حاجی
خان جلوانی ، بلند خان ، بجان خان ، اوسرمست خان
ورسره وو ، ښی خواته ئی شهزاده جلال خان ، تاج‌خان
سلیمان خان ، قطب خان . حسین خان ، او نور سرداران
دامر منتظروو ، په‌دی وخت کښی شیرشاه دفوځ په‌مخکښی
داسی وینا وکړه :« زما وروڼو ! ماپه ډیر کوشش تاسو
راغوند کړی‌ئی ، او ستاسو سرلوړ ی می مطلب دی . نن

ورځ ستاسو دازمیښت ده . نن ورځ که هرڅوك په میدان کښې برشو ، دهغه مرتبه به لوړه شي . داسې کوشش وکړئ چه دجنګ په میدان کښې ټول پښتانه یوځای اویو آواز او سي . دپښتنو په لښکر کښې که اتفاق وی نو په توره کښې هیڅوك دد وی مخه نشی نیولای . زه تاسو عزیزانو ته دا خواست کوم چه کینه ، حسد او اختلاف پریږدئ . دسلطان ابراهیم په وخت کښې هم د کور دښمنۍ او اختلاف پښتانه تباه کړل . تاسو ښه سزا ومونده .

عزیزانو ! ماپخه اراده کړیده چه یا به ددی جنګ له میدانه دفتحې او نصرت بیرغ په لاس وځم ؟ او یا به ځما سر ددښمن د آسونو دپښو لاندی شي . مرګ یوځل دی ، نو په کاردی چه په میړانه اونیك نوم مړه شوو !

ای عزیزانو ! ویره ونکړئ ، دجنګ میدان ته داسې لاړشئ لکه زمری ، دیو سپاهی دپاره ددینه بل لوی شرم نشته چه دهغه سالار مړشي او سپاهی ژوندی راشي . که په دی جنګ کښې قدم کلك کړئ نو هند وستان ستاسودی . زه زوړیم او په ډیر کوشش ما پښتانه را غونډ کړیدی . خدای مکړه که په دی جنګ کښې تاسو شکست وکړ ، لښکر تار په تار شونو بیا راغونډیدل ناممکن دی .

هغه پاڅی چه له خانـگی پریوځی هغه بیاخانـگی سر ه یوځای کیدای نشی.» جنګک ونښست، اوداسی سخت ؤچه آسمان اوځمکه ولړزیدل اودهمایون فوځ دپښتنو له لاسه دمیږو ملخو په شان دل شو. ډیر میدان کښی قتل شول او ډیر ګـنګا کښی ډوب شول. پښتنو مغول په مخه کړل او همایون ساه نیولی اګری ته ورسید. همایون ځان په مر ګک ونیو او خو مره قوت ئی چه ور لوپرله پسی ئی میدان ته راوست اوپر له پسی ئی شکستونه وکړل. دجوسه میدان کښی همایون مات شو اوسیند ته پریوت. که سقه نظام راویستلی نه وای، نو ګـنګا بهوړی ؤ!

شیرشاه پنځلس کاله په امیری کښی اوپنځه کاله ئې دهند په بادشاهی کښی تیر کړل اودنیاته ئی وښوده چه پښتانه څنګه حکومت کوی!

په آخره کښی چه په یوه کلا جنګک ؤ داور پیپان به ئی کلاته غور ځول یو پیپ بیرته راغی اولاندی نو رو پیپانو اور واخیست او په دی منځکښی اعلیحضرت شیرشاه شیخ خلیل، شیخ نظام، اودریاخان سروانی په اور کښی چلیل شول. په دغه حال کښی چه سوی سکو ر ؤ، نو هم آخری وصیت ئی داؤ چه ګوری کلا پاتی نشی، فتحه ئی کړی هماغه ؤ چه دماښام نه مخکښی ورته دفتحی

زیری راغی او شیرشاه در بیع الاول په ۱۲ تاریخ ۹۵۲ ه
کال د یکشنبی په ورځ وفات شو . شیرشاه پنځه کاله
حکومت وکړ . خوداسی حکومت چه نظیر ئی دهند په
تاریخ کښی نشته . دده موضوعه قوانین او اصول دمغو لو
انګریزانو او نورو دپاره دلاری مشال ؤ اودی . د ده
عمرانی اومدنی اصلاحات په تو اریخو کښی کتل
په کاردی .

✲✲✲✲

# دشهاب الدین غوری سیرت

وایی چه سلطان شهاب الدین غوری ۳۲ کاله حکومت کړی دی ، او داټول عمر یی په غزا ،جهاد او د اسلام د نشر او اشاعت په لیاره کښې تیر شوی دی . یو ځل په ۵۸۷ ه کښې سلطان دهند لور ته د غزا په نیت لاړ . دلاهور نه کوز بټهنډه نومی کلایی په خپل ور ځو کښې فتح کړه ، دهغه ځای نائب الحکومه یی خپل یو افسر چه ضیاءالدین نومیدو ، مقرر کړ ، او خپله بیرته دغزنی په خوا راستون شو . په دی وخت کښې ورته خبر راغی چه دډیلی راجا رای پتورا اوداجمیر راجا کهانډی رای ددوه لکه فوج سره جنګ ته راغلل . سلطان دوطن د تګ عزم فسخ کړاو بیرته ور وګرځید . د تانیسر په ځمکه دسرسوتی سیند په غاړه دواړه فوځونه مخامخ شول . دوطن دخلکو تعداد زیات ؤ دسلطان دواړه ډډی فوځ چه پښتانه ، او ترک تاجک پکښې وو په جنګ کښې وار خطا شول اوماتی یی وکړه . سلطان ته چا وویل چه اعلیحضرتا لښکر وتښتید په سلطان داخبره ډیره بده ولګیده او پخپله دجنګ میدان ته ورګډ شو . په سلطان له هری خوا حملی شروع شوې . دډیلی راجا کهانډی رای چه د مقابل

ټولو متحده لښکرو سپه سالار هم ؤ ، کوم وخت یې چه نظر په سلطان ولګید هاتي یې ورپسې ور و ځغلاوه .
ددواړو باد شاهانو په منځکښې لاس په لاس جنګ ونښت .
دسلطان سره نیزه اودرا جا سره توره وه . مخامخ یو پر بل ګذارونه وکړل . دسلطان دنیزې په ور د را جا مخامخ دوه غاښونه ووتل او نیزه ئې تالوته ور سیده .
همدا رنګه دراجا دتورې په جواب ګذار دسلطان مټ زخمي او بې کارهٔ شو . نزدې ؤ چه له اسه ولویږ ې . په دې وخت کښې یوغلجي ځلمي وړټوپ کړ اوسلطان پسې په آس سپور شو ، سلطا ن یې ټینګ کړ او آس له یې داسې پونده ور کړه چه تا به ویل سیلۍ ده او په تیزۍ یې شل میله لرې تښتیدلی فوځ ته زخمي بادشاه ور ورسولو .
دلته دو ی غز نی ته په ماتې را غلل او هلته د سلطا ن نائب الحکومه چه دمقاومت تاب یې نه در لود تسلیم شو .
دې واقعې دسلطان دغیرت اور داسې تازه کړ و چه سلطان درسپړلو سره سم چه کوم لومړی کار وکړ وهغه داؤ چه جنګ نه تښتیدلی منصبداران ، جر نیلان او سپه سالاریې را غونډ کړل مخونه یې وربا ندې تور کړ ل ، دهیو کو امیلونه یې ورپه غاړه کړل اوپه خرو یې چپه سپاره کړل . داور بشو ډکی تو برې یې ور پغاړ ه کړ ې .

او په بازار کښې يې وګرځول . دا حکم يې هم کړی ؤ
چه که هر افسر دخره غوندی په توبره کښې خو له د ننه
نه کړی او ور بشی و نه خوری سر يې غوڅ کړیږ . په دغه
شان سلطان عملاً ورونښوده چه دپښتنو لیږ نه څوك انحراف
وکړی سزا يې څه ده !

د دينه پس په دويم کال کښې ناڅاپه سلطان له غزنی نه روان
شو . يو نيم لك پښتانه، ترك او تاجك لښکر ور سره و، دا لښکر
چه پېښور ته ورسيد نو دلته ديره يشو هيڅوك نه پوهيدل
چه سلطان څه اراده لری او دوی چيرته ځی ، آخر يو زوړ
سپاهی زړه کلك کړ ، سلطان ته راغی ويل يې اعليحضرتا
ستاسو اراده څه ؟ او ددی لښکر مقصد څه دی ؟ سلطان
په موثرهٔ لهجه ورته وويل : « ستا ياددی چه په تيره غزا کښې
زما قوم او ملګرو زه يوازی په ميدان پريښودم، او زمونږ
جنګ نسکوره او دښمن غالب شو . زمونږ شان ټوپر ټيټ
شو او مونږ دخلکو په نظر کښې سپك ښکاره شوه . ده
ويل زما دوجود زخم جوړ شوی دی ، دزړه زخم مې
نه دی جوړ شوی . بيا يې وويل رانزدی شه و ،ګوره،
داهماغه کميس دی چه په تيرجنګ کښې مې اغوستی ؤ،
تر اوسه مې بدل کړی نه دی . ده ويل ما له هغه وخته
راهيسی ښه خوراك نه دی خوړلی . په بستر ويده شوی نه يم .

ما به تاسو سره په خندا خبرې کړې وي خو په زړه کښې
مې تل ژړلي دي». وايي چه سلطان په دغه موده کښې
د هر قسم عيش او خوشحالۍ نه لاس اخستی ؤ. تر دې
چه کور ته هم نه تلو. ده قسم خوړلی ؤ چه څو د دين
او ملت ناموس په ځای نه کړم عيش او آرام به و نه کړم.
چه د سلطان خبرې خلاصې شوې سپين ږيری سپاهی
ور وړاندې شو، او په لمدو سترګو يې ددهٔ لاسونه ښکل
کړل، ويل يې بيشکه چه تاسو د دين او قوم د غيرت حق په
ځای کړی دی، او عرض يې وکړو چه دا جرنيلان او سپه
سالار ډير سپک شوؤ، ډير وشرميدل، نور يې و بخښې
او موقع ور کړې چه د بدنامۍ داغ پخپله وو ينځي!
بادشاه دا مشوره قبوله کړه چه ملتان ته ور سيدنو ټول
جرنيلان او سپه سالاري دربار ته حاضر کړل، او دا يې
ورته وفرمائل: «مسلمانانو وروڼو! تاسو د جنګ له
ميدانه وتښتيدئ او زه مو يواځې پرېښودم. ستاسو تيښتې
د اسلام په لمن او د پښتون په جامه تور داغ ولګاوهٔ. زه،
قوم او دين موو شرمولو، اوس زه تاسو بخښم، تاسو له
خدايه بخښنه وغواړئ. خدای به هم تاسو و بخښي چه
د ايثار او فداکارۍ له مخې په غيرت او ايماندارۍ سره
خپل ناموس په ځای او خپله وظيفه اجرا کړئ!»

سلطان دلښکر سره لاهور ته ورسید . رای پتورا ته یی ولیکل « اسلام ته اطاعت وکړه !» هغه سخت او مغرورانه ځواب ورکړ . او بیا په هماغه ځای د سرسوتی سیند په غاړه د جنګك صفونه جوړ شول . سلطان خپل لښکر ته امر وکړ چه بی زماله حکمه قدم وانخلیء او خپل لښکر یی په څلورو برخوو ویشلو . شپه په نا کراریء تیره شوه . صباچه دلمر پلوشو دنیاز غفرانی کړه . نو یو نیم لــك پښتون ددری لــکه مقابل خلــکو سره نیزه په نیزه او توره په توره مخامخ شو . وایی چه په دی جنګك کښی اوه نیم شلی راجګان ، سپه سالار ګهانډی راؤ ، چواندا رای او نور ډیر بیشماره خلك څه مړه شول ، او نور وتښتیدل . په آخره کښی سلطان اجمیر فتح کړ : هانسی ، سامآنه ، کهرام بنارس ، قنوج ، وار په وار فتح شول . بهار او بنګال ته لار بیرته شوه . سلطان دهندوستان دانتظام دپاره خپل غلام قطب الدین ایبك پریښود او پخپله غزنی ته ولاړ . سلطان په آخری ځل په ۶۰۳ ه کال چه ( ۱۲۷۵ ع ) سره برابر دی . بیا هندوستان ته ولاړ ، لهجنــګو نو وروسته چه وطن ته تلو ، په هسیاك نومی ځای کښی دګهکړ نومی

قبیلی هند وا نودشپی په‌فوځ حمله وکړه اوسلطا ن شهید شو . داواقعه دبرات دمیاشتی په‌دریمه ۶۰۲ ه کا ل کښی وشوه. دحکومت موده یی ۳۲ کاله ده . دده و زیر اعظم خواجه مؤیدا لملك دده پور له خلکو واخیست اوجنازه یی غزنی ته راوړه .

۞ ۞۞

# دپښتو خزانې په باب تو ضيحات

پټه خزانه دپښتو د شعر او ادب يو موثق اود اعتبار وړ تاريخ دی . ددې خزانې پــه را برسيره کــيدو سره دپښتو له شعر اوادب اودپښتون له تاريخ څخه داشتباهاتو اوفراموشئ ډدوړې او ګرد ونه لر ی شول . د مير ويس نيکه او احمدشاه بابانه رادې پلو دوه سوه کاله تيرشوی وو، پهدی دوه سوه کاله کښې پښتو اوپښتو ن موجودؤ، مګر دپښتو دادبياتو او پښتون تاريخ پټه معلو مه نه وه . چا به و يل پښتا نه بنی اسر ائيـل د ی . چـا بـه و يـل قبطيان دی .

چه به و يل څه دی ، اوچا بهويل څه !

دپښتو په متعلق هم اذهان دومره مغشوش کړی شوی ووچه چابه ويل ددوزخيانو ژبهده اوچا به بهو يل ژ به نهده لهجه ده . پخپله دپښتنو لهدماغهم داخبره چوره و تلې وه چه پښتوهم کومه ژبهده ، اوپه دی هم څه شی ليکل کيدای شی . پښتو دیحدته رسيدلی وهچهپه ښتو خبرې کول دشاړ والی لويه علامه وه ، پههغه وخت کښې چا کــله ويلی شول چه پښتو ګريمر اوصرفونحو لری . دپښتنو لوی لوی قومونه خلـکو پښتانه نه ګـڼل اونور

څه به ئی ګټل مثلا غوریانو او سوریانو ته خو قطعاچا پښتانه نه ویل . لودی کورنیٔ پښتنه نه شمیرل کیده .
دا سی کسان خو لا اوس هم شته چه دهند دباداشاهانو غلجی کورنی خلجی اودخلج نه ماخوذ او له پښتنو پرته څه یی بولی . په دغه وخت کښی دپښتو او پښتون بیړ یٔ بیخی تباه شوی وه .
دغرب مستشرقینو دومره کار کړی ؤ چه دپښتنو تاریخ یی دبایزید روښان اواخون درویزه زمانی ته رسولی ؤ او دپښتون دتاریخ په متعلق دنورو نظر یو سرهٔ یوه داهم وه چه پښتانه دپخوانو آریائی اقوامو څخه په دی ملك کښی پاتی خلك دی . داملك دهمدوی دی او له بل ځایه نه دی راغلی .
ځینی غربی علماؤ دپښتو په ګرامر ، ادبیاتو او فلالوجی باندی څیړنی هم کړیوې ، مګر دانو چاته معلومیدای شوی ، چه څو زمانه داعلیحضرت شهیدغازی محمد نادر شاه افغان عصر ته راور سیده او دغه لوی پښتون په ملك کښی دعلم ادب ، تاریخ اوپوهنی دروازی بیرته کړې اوپه ملك کښی ادبی محافل او انجمنو نه جوړ شول . ادبی انجمنو نو علمی اوادبی مذ اق پید ا کړ . دغو دعلم او آدب دذوق خاوندانو ، څیړنی او

بحثونه شروع کړل . دهرچا خوای یی بویو ای ، اوپه هره سوړه یی ټکوټې ننه ایستی چه څودا خبره بلاشکه او بلاریبه ثابته شوه چه دپښتون دملی قوة او اخلاقی عظمت نه خلك ویریدل اوهغوی په لوی لاس دپښتون په ملی او ادبی تاریخ باندی خاورې اچولی دی . حقیقت داؤچه پښتانه د جیحون او اباسیند او پامیر اوبحر هند دمنځ دسیمو بومی خلك دی . پښتو یی ژبه ده اودا تاریخ پنځه زره کالوته رسیږی .

کوم وخت چه پټه خزانه ښکاره شوه نودډیرو رجالو مشاهیرو ، شاعرانو ، کورنیو ، اود هغو دملی ژبی او دپښتو دتاریخ سلسله هم ورسره روښانه شوه . د پټی خزانی پسی نور ډیر شعراء ، دواوین اوآثار یو یو په افغانستان او پښتونستان کښی راوځی ، دپټی خزانی په پیدا کیدو او نشریدو سره دپښتو دادب تاریخ ۱۲ سوو کالو څخه وړاندی شو ، اودنورو همجوارو ایشیائی ژبو څخه ئی تاریخ وړاندی لاړ .

مګر دحیرت او تعجب خبره داده چه څومره د پښتو پخوانی آثار او لرغونی اشعار پیدا کیږی ، هغه په هماغومره اندازه دمعاصرینو او او سنیو اشعار و او ادبیاتو څخه پاخه ، درانه ، متین اودملی رنګ په لحاظ

قوی دی . نوسږی ضرور دایقین کولی شی چه دا سلام
نه مخکښی ارو مرو دلته دپښتو قوی اومتین آثار موجود
ووچه دزمانی سیلاب وړی دی . یوه ډ له سا ده خلک
لااوس هم زمونږ په خواوُ شا کښی شته چه هغوی اوس
هم دا ګومان کوی چه پښتانه بنی اسرائیل یاعرب دی .
مګر کهسږی ورنه دا پوښتنه وکړی چه ښه نو پښتودسامی
ژبو سره څه مناسبت لری ؟ هغوی د ی علمی پو ښتنی
ته غوږ نږدی ، خو په دی خوشحاله دی چه یوه اوریدلی
خبره تکرار کړی . پټه خزانه یو نمر ؤ چه دپښتواو پښتون
په آسمان را وخوت . مګر ځینی کسان لااوس هم زیار
باسی چه دغه نمر په دوه ګوتو پټ کاندی . مونږ اوریدل
اواوروچه دپټی خزانی پسی به پټی خبری کیدی او کیږی .
په دنیا کښی داسی هیڅ یو حقیقت نشته چه ځینی خلکو
پکښی شك نهوی کړای ، اویا عمداً پکښی شك نه وی
اچول شوای . خبری خو کیږی اوخلك یی کوی . مګر
دخبر و قیاس ایستل د هو ښیـارو کـارد ی . د خبرو
او ریدو نکو دپاره په کار ده چه داوریدلو خبر و په
ټولو خواؤ غور وکړی . بیایی یاومنی یایی رد کړی .
ددی کال په سر کښی چه مونږ پیښور ته تللی وو . هلته
هم ما سره ځینی کسانو څه خبری وکړی ، او له ما څخه یی

دپټې خزانې په باب معلومات وغوښتل ، زه پوه شم چه دوی ته هم ځینی خبری چااورولی دی . ما هغو ته ځینی دلائل وویل چه دهغه دشکوکو ازاله ورباندی وشوه .
زه اطلاع لرم چه دغسی ځینی خبری ډیری اری لری هم تللی دی ، چه مونږ ته یی انعکاسات رارسیږی ، دغه خبری او انعکاسات مونږ مجبوروی چه دخلکو زړونه د پټی خزانی په باب سپین کړو . یو پښتون عالم چه که په پښتو کښی لږ معلومات هم ولری دپټی خزانی په حقیقت کښی شك نه شی کولای . مګر هغه کسان چه اصلا پښتانه نه وی ، او دپښتو تاریخی تسلسل ورمعلوم نه وی ، که عالم هم وی غولیدای شی .
اصل خبره داده چه دپټی خزانی دلیکلو سبك او اسلوب ، دهغه وخت رجال او مشاهیر ، نظمونه او ادبیات ، چه هر نظم ددی وخت نه جلا او علیحده بحر اوترتیب لری . بیا په هر نظم کښی خومره دپښتو زاړه اومتروك لغات موجود دی . پخپله پټه خزانه په نورو کتابونو ، آثارو اوروا یاتو حوالی ورکوی . دټولو خلکو نومونه اخلی دکتابونو نومونه او مضنفان یادوی ښه نو ، یو انسان داقدرت لری چه دومره خیزونه په یووار جعل کړی ؟ اوله نیسته یی هست کاندی ؟ ددنیا په تاریخ کښی مونږ

داسې خیره تر اوسه نه ده اوریدلې چه ددنیا کوم نا بغه دغسې کوم کار کړی وی . مګر دپښتنو داحال دی چه یا له سره چا نه منل اویا دغومره لوی کار ورته منسوبوی چه په دنیا کښې هیڅ مثال نه لری . دپټې خزانې په باب داشتبا هاتو اودهغو جوا بونو ته په دی صحبت کښې ما تشه اشاره وکړه . اوس دمضمون د طوا لت له کبله دبحث لمن راټولوو،اونوری خبری بل وخت ته پریږدو.

کا بل : ۱۳۳۵ ش ه

✲✲✲✲

# د بحر آباد سمڅی

کامه د ننګرهار د ولایت آخر نی حکـو مت د ی چه د پښتونستان د آزاد سرحد سره لـګیدلی دی .

د کامی نه لمر پریواته ته د بهسودو او کامی په منځکښې د کونړ سیند تیر شویدی . د بهسودو برسر ته قاسم آباد وایی . بهسود د کابل دسیند په شمالی غاړه دیوی علاقی نوم دی چه وریجی ئی په افغانستان کښی شهرت لری .

د بهسودو پورته خواته یوه و ړوکی غونده کی ده چه ددینه سړی بری خواته واوړی دغلته د کابل د سیند په غاړه څه ودانه ځمکه اوځو کـلی دی ، دغوته بحر آباد وائی دبحر آباد نه چه سړی نور هم پور ته و لاړ شی نودروښی ته ورځی . زمونږ مدعا د بحر آباد په سمڅو کښی ده . ددی مضمون لوستونکی به ا کـشره ددروښی له حده د یو میل په اندازه کوز ، دسره رود په خوړ یو پل جوړ شوی دی چه سور پول یی بولی . دغلته د پله په حد چه سړی دشمال خواته د کابل سیند غاړې ته ګوری نو دسیند په کمر کښی توری سمڅی معلومیږی . سمڅی خو ډیر ځایونه وی ، اودومره ورته خلك نه ملتفت کیږی .

په دې لاره ډېر ځله تېر شوی يم او د بحر آباد دغو سمڅو ته
مې کتلي او سودا مې ور ته پيدا شوې ده چه آخر دا سمڅې
په دغو مره منظم او مربوط صورت چه له ورايه ښکاري
دا به څه وي او د کوم وخت دا انسانانو په لاس به جوړې
شوې وې او دا جوړونکي به څوك وو ؟ او دا سمڅې به
د څه مدعا د پاره جوړې شوې وي ؟

دا به ماسره تل سودا داوه . او شوق مې در لود چه
كوم وخت ورشم او وګورم چه كيفيت څه شی دی ،
سږ کال د عقرب په اوائلو کښې زما يو ملګري و ويل
زما کار دی بحر آباد ته ځم . د هغه سره ما هم ځان ملګري
کړ او له جلال آباده بحر آباد ته ولاړو . د جلال آباد له
ښاره به د قند د فابريکې د مخامخ جالې په لار بحر آباد ته
دوه کروه مزل وی . په بحر آباد کښې يوه شيبه کښېناستو .
په دوه بجې له بحر آباده د کابل د سيند په امتداد نمر
پريواته ته د بحر آباد د سمڅو د سيل او کتلو د پاره روان
شوو . زما ملګري هم د لرغونو آثارو د کتلو شوقي ؤ .
هغه و يل ما دغه ځای ليدلی دی . ده و و يل هلته يو ښار
او يو بازار دی او دغه ځای د کتلو وړ دی . پورته د سيند
په غاړه تلو ډېرو لرغونو ويالو آثار معلوميدل چه
سيند ور نه خورا ډېر ښکته شوی ؤ او دغه ويالې پورته

پاتی شوی او ورکې شوی وې . ځای ځای سمڅی مخې ته راتلې . زما ملګری بهویل مونږ چه ورځو هغه داځای نهدی ، اولا به پورته تلو . پهځلورو بجو دسمڅی ځای ته ورغلو .

دسیند پهغاړه شګلن کمر کښې دسیند داو بو دجریان څخه تقریباً ۲۰ متره جګک سمڅی ایستل شوی دی . کمر دغره حیثیت لری . په اصل کښې خوشګهده . مګردزمانې پهتیریدو یې دسیمټو صورت غوره کړیدی . دا کمرچه سیند په تدریج سره وهلی او کښینو لی د ی نیغ لکه دیوډیر لوړ دیوال غوندی سم ولاړ دی . په بیخ کښې یې سیند بهیږی . دباندی څخه دتیږو اوغره ډول لری . مونږ چه ورته راغلو ، نویوه دروازه غوندې لیاره موپیدا کړه او ورننو تودالیارد تونل پهشکل مخ په وړاندی تللی ده . وړاندی لاړو ، اودا تونل پهیو بل لوی تونل ورګډ شو . دابل تونل دسیند دغاړی په امتداد شرقاً اوغرباً ایستل شوی ؤ پهدغه تونل کښې پورته روان وو . ترډیره حده پوری لاره معلومیده ځکهچه دسیند لهډډی ورته کړ کیءِ ایستل شوی وی . اوپه هغو کښې کافی رڼا راتله مونږ دغه تونل تعقیب کړو . یوداسی ځای ته ورغلو چهنور وړاندی درڼاخرك نه لګیدهٔ څهلږ وراندی

لاړو خوویریدو . مونږ ویل چه کوم حیوان یامار اړم
رابالدی پیښ نشی . خلکو ویل داتور غار هیڅ نه دی
معلوم کړی چه ترکومه او چیرته تللی دی . ځکه وایی
چه لالټین او چراغ هم پکښی مری . کوم وخت چه بیرته
راوګرځیدو نو دسیند دخوا دکړکیو په تلاش کښی شو .
داکړکۍ په لږه لږه فاصله کښی جوړی شوی وی .
دتونل نه دکړکۍ خواته دیوی دروازی غوندی ځای
نه تیر شوم . دننه ګورم چه یوه نهایت ښکلی هندسی
کوټه موجوده وه . دا کوټه په مستطیل شکل سره دسیند
خواته تللی وه . په پورته سر کښی یی ښی ډډې ته یوه
بله دروازه ښکاریده چه پکښی یوه دوه متره په دوه
متره کښی پسخانه وه . پخپله کوټه چه ما اندازه کړه
اوه متره په اوږد والی او شلور متره په عرض وه . جګوالی
به یی تقریباً دری نیم متره وو چه په ګنبدی صورت
تیاره شوی وه . دکوټی او پسخانی دواړو څخه دسیند
ډډې ته پنځوس سانتی په اویا سانتی کښی کړکۍ
پرېښودل شوی وی . په دغه شان سره چه ما حساب کړی
له یوه سره تر بله سره پوری پنځه کوټی روغی ولاړی
وې . نوره یوه برخې ئې سیند وړې وه . زما ملګری ویل
راځه چه ناوخته دی . او اصل کښی دسیل ځای لا بل دی .

مونږ بیرته ښکته دسیند غاړه ونیوه . ښایسته پهلږ ه فاصله
کښې یوه دروازه غوندی غار ښکاره شو . داغار دسیند
له سطحې څخه تقریباً ۳۰ متره جګ ؤ . پاس و ختو چه
ورننوتو . ګورو چه په نیم دائره شکل سره یوه خالیګاه
جوړه شویده . خالیګاه دسرك په صورت ده په منځکښې
لویه ستن غوندی پرېښودل شویده او دواړه خواد سیند
له پلوه دریځا درانئو تو دروازی لری . پهدغه نیم دائر وی
شکل تونل کښې چه ما وشمارلی په مرتب صورت سره
لس دکانچې یاصومعې موجودې وې . دهرې صومعې
ګـنجایش دومره ؤ چه یو سړی پـکښې ځملاستی او
کښېناستی شو . ځای ځای دچراغانو دایښودو تاخچې
معلومیدی . سړی پوهیدهٔ چه پهدی تاخچو کښې ډیره
موده چراغونه لـګیدلی دی . خو دا نشوه معلومه چه
داځای دځه مطلب دپاره ؤ ، زهګومان کوم چه داعبادت
خانه وه ، اودا وړی صومعې دیو یو نفر دچلې ځای ؤ ،
مګر عوامو ویل چه دا بازار دی ، اودایی دکانونه دی .
دقاسم آباد نه ددرونټې او شمشه پوره پوری په یوه
کروه فاصله کښې دغونډیو پهسر برجونه جوړ شوی ښکاری
چه اوس وران پراته دی . مونږ یوو ران برج تهوروختو ،
اولاره مو یی پیدا کړه . تر یوه حده ورننوتو . نوره

لاره بنده وه . زما ملګری « مفتی عزیز الله» هم بیذ وقه سړی نه ؤ . هغه ویل ګوره دا برجونه ددی دپاره جوړ شوی دی چه له دی ځایه ددښمن لاروخارل شی . دا سمڅی عسکری استحکامات معلومیږی، دسیند نه پهجنوبی غاړه دپټوپه منځکښی لوئی لوئی غونډۍ دکوم یوزوړ ښار علامې دی داسی بریښی چه دغه ښار والاؤ دشما ل دخوا د کوم دښمن قام څخه ویره درلوده . اوځای ځای یی استحکامات جوړ کړی دی چه دښمن دسیند د هغه پوری څخه منع کړی ، چه په سیند راپوري نه وځی . ګویا خپل د فاعی سنګر یی دسیند به بله مخامخ پوره جوړ کړیدی . داخبره بیځایه هم نه وه ، ځکه دغلته د سیند په غاړه دننګرهار یا« نا ګی» په نامه یوښار دتاریخ پهاسفارو کښی هم کتل کیږی .

پههر صورت دبحر آ باد سمڅی دو طن د و ستو ځوانانو دپاره دکتلو او تحقیق وړ زمینه تهیه کوی . که د غه خاو ری و کتل شی . ممکن چه له دغه ځایه مهم تاریخی انکشاف وشی دادسیند غاړه ده اودقبل ا لتاریخ انسانا نو دسیند و نو غاړ ی او د غسی محفو ظ ا و ماموونه ځایونه دځان دپا ره خوښو ل چه

دوحشی حیوانا تو اودښمنا نو څخه پټکښی په امن وی . د لته هم سمڅی د سیند له خوا کاملا په امن دی او د بیرون له خوا فقط یوه لاره ورته پر یښودل شوی یده چه په ښه شان یی دفاع کیدای شی او د جنګ په وخت کښی و رته او به نژدی او د دوی په قبضه کښی دی .

کابل : ۱۳۳٦ ش ه

# په اجتماع کښې خپل چاري

دغه خلك چه مونږ ورسره ګذاره لرو یاداچه یو تر بله سره ژوندون کوی ، په څلور ډوله دی : (۱) خپل چاری (۲) غافلان (۳) سوداګران (۴) نیکان . خپل چاری هغه خلك دی چه دوی هرڅه اوهر څیز ته دا ستفادی ، استثمار اود ګټې اخستلو په سترګه ګوری ؛ دوی وایی چه باید سړی لههر څیزه ، هرې موقع اوهر چا نه ګټه وکړی . ددوی په نزد خپلوی ، دوستی ، مینه محبت ، ورکړه راکړه ، آمریت ماموریت ، وطن ، قام ، دین مذهب ، بلکهدنیا اومافیهاهرڅه ددیدپارهدیچهسړی یی استعمال کړی . خوند اومزه ورنه واخلی ، ګټه ترې وکړی . اودخپل غرض دپاره ئی ولوبوی . په دغه تیپ خلکو کښې عالی افکار او ددوی په دماغونو کښې دلویو مرامونو دپاره آرزوګانی جلوه نهکوی . دوی کښې صمیمیت وفا رښتینولی او صدق هیڅکله نه میندل کیږی . دروغ وایی ، چل کوی ، لوټه پهسیند کښې کښیږدی اوپرې تیریږی . ددوی هرکاردغرض اوچل وی ، داکار دهر چاسره کوی ، کهڅه هم ددوی زوی ، پلار ، ښځه ملګری ، محسن ، آمر ، او پیر استاذ ولی نهوی ! ددغو

کسانو که درته څه ارهوه نو ډیر پاسته ، خو اوه او شیر یو بهوی . خو چه کار یی وشو ، بیا به داسی وی چه ته به وایی په یو جماعت کښی یی درسره نمونځ نهدی کړی .

دغه شان خپل چاری خلك که لږ ساده او کمعقل وی خوسړی یی زر پیژندی شی اوځان ورنه ساتل ممکن دی لیکن که زیرکه او هوښیار هم وی ، نو پناه پهخدای ! ددوی لهدامه خلاصیدل ډیر مشکل دی . خپل چاری خلك اغلبا چالاکه ، ترزبانه ، اوز رنګ وی . ددوی د شرم ، شرافت او ساهو تو ب په معنی نه پو هیږی . هلته به درسره دروغ اوخیانت وکړی وبه دې غولوی ، تیر بهدې باسی ، ته به پوه همشی ورنه به ګـله دم وکړی ، مګرچه بیایی درته کار پیداشو ، پهچالاکی ؟ درته بلدامغوړوی ، اوپـکښی دې رانیسی . ولی کـلههمدغه تیپ خلكدومره عمیق ، ژور ، درانده ، او مرموزوی ، چه خپل اغراض دعلم ، ادب ، فلسفی ، دین اووطن پرستی ؟ پهجامه کښی پټوی ، دومره خوددار اوپهځان قابولرونـکی وی ، چه لس کاله ګذران به ورسره وکړې خوچه دتجربی و خت او دمطلب فرصت راغلی نهوی ، وبهیی نهپیژنی ، دغسی کسان پهدی پیژندل کیږی چه ددوی محیط ، دوستا ن ، وینا وی او اعمال ، سوانح او کا رنامی معلو می کړی

شی ، او مرتبا سر په سر کښېښودی شی ، که ماهموارى
او بد آهنګی پـکښې موجوده وه ، صورت او سیرت ،
دوستی او اخلاقو کښې یې دهروخت او زمان سره تغیر
او تبدیل کړی ؤ. او په ثابته او مستقیمه لاره نه وو تللی ،
نودا خلك خپل چاری دی . پام کوی‌ٔ ددوئی په د غو
فلسفو او ګـر مـو ویـناوو، زاهدانه او پرهیزګارانه
اوضاعو زړه بای نه لی‌ٔ . دغه خلك خپل چاری دی .
وګوری‌ٔ او دقت وکړی‌ٔ ددوی ظاهر به یو رنـګ او
باطن به یې بل رنـګ وی . دادخیر خلك نه دی چه پر ێ
غلط نه شی‌ٔ !

هوداسی هم کیږی چه ددغسی خلـکو څخه ښه خبره ،
ښه کار ، ښه مضمون او ښه اثر ، و لید ی شی ، یا کـله
درسره کو مك او مرسته وکړی ، ږوږی در کړی او حمایه
دی وکړی ، خودا ټول کارونه په جدی صورت نه کوی ،
دافقط هغه دانه ده چه ښکاری یې په دام اچوی . دوی
هیڅکله هغه یوه پیسه نه لـګوی چه دزرو رو پو تمه
پـکښې نه لری . په دغسی اعمالو دغه کسان یامقابل اغفال
کوی ، یا یې دخپل نفوذ او تاثیر لاندی راولی ، او یاورنه
زیاته ګـټه کول غواړی . په دې خلـکو کښې لوی نفص
دادی چه لوی عزائم نه لری . دلویو عزا ئمو دامعنی نده

چه لويي رتبې او منصبو نه اوجاه ومکنت نه غواړي .
بلکه داټول غواړي او ترنورو ښه وررسيداى هم شي ،
خوداهر څه دځان دپاره غواړي . په د غو خلکو کښې
دايثار ، فدا کارۍ ، رښتينولۍ ، حميت او اجتماعي خير
ماده نه وي . بلکه د ډيرې خو د غرضۍ څخه اکثراً
دسپړ ى دپاره پوستين اورته اچوي او د خپل لږ منفعت
دپاره جامعه قوم اوملت تباهۍ ته ورکوي . داځکه چه
دوی په انسانی شرافت ايمان نه لري . خپل چاری خلك
ډارن هم وي . ځکه چه شجاعت دايمان خاصه ده . او
هيڅکله په صراحت خبری نه شي کولاى . ته به وايې چه
دژبي لاندى ئې غوز نيولی دی ! دا دی هغه خلك چه
ترې ډار په کار دی !!!

کابل : ۱۳۴٦ هـ ش

✲✲ ✲ ✲

# په اجتماع کښې ساده وګړي

داجتماع په ځلو ریزو ګروپونو کښې داول ګروپ بیان چه خپل چاری دی مخکښې مقاله کښې تیر شو . په دې مقاله کښې ددویم ګروپ یعنی غافلانو څخه بحث کوو، غافلان یا په بل عبارت سادګان هغه خلك دی چه دوی ، ساده ، صاف او بی آلائشه وی . د دغو کلماتو دا معنی نه ده چه دوی په مینه ، محبت ، آشنائی او ګرمجوشۍ نه پوهیږی . داډله داسی هم کیږی چه رښتیا ډیر ساده وی او په دی خبر و پوه نه شی ، او داهم کیدی شی چه دومره ساده نه وی او په دې ښو اوضاعو او حتی د وګړو او خلکو په خدمت هم پوه شی ، مګر دغه ډله خلك خو په دی ضرور نه پوهیږی چه دنیا کښې داسی رند ان . چالاکان او خپل چارې هم شته چه هغوی فقط او فقط دخپل مطلب آشنایان دی . تر دې چه داخپل چاری خلك دډیری جاه طلبۍ او غرض له مخې هغه کسان چه دوی ورسره رقابت لری یا ئی ور باندی رخه کیږی په لطیفو حیلو سره له له پښو هم غورځوی، ترڅو چه یوائې په میدان کښې هم دوی پاتې شی ، او بل څوك ددوی له نامه سره یادنشی !

غافلان او سادګان یا ډیر ناپوه او بې تجربې وی او یادعلم اودانش شعر او جما لیاتو په لوړ آسمان کښې الوزی ، اوددې خاورینی او مظلمی نړۍ ماراولړم، ګیدړ او لیوه ته ئی پام نه وی . داصاف زړی خلك هیڅ کله باور نه شی کولی چه دحضرت انسان په نوعه کښې

هم دغومره ټیټ خلك شته چه هغوی د خپل یو ادنی غرض
دپاره د بل انسان او حتی د ملګری او اشنا په سر پښه ږدی.
مګر دنیا او د خدای مخلوق په عجیب تفاوت سره پیدا
شویدی: همدغه د دوه غوږونو او دوه پښو خاوند انسان
چه په مخ پوزه لری او د نورو حیواناتو په خلاف سم د م
پر لاره ځی او خبری او خندا کوی، د افرادو په اجتماعی
لحاظ دومره تفاوت لری چه سړی حیران پاتی شی چه
د دومره دوه لری طبقو څخه لکه خپل چاری او
نیکان، څنګه دیوې نوعې افراد جوړ شوی دی؟

داساده خلك د هر ملت او جمعیت زیات تعداد تشکیلوی.
دغوته توده، قام او ملت هم وائی دغه ساده خلك دائما
په خپل کوم کار مصروف وی هر چاته ښه نیت لری. زارع
مالدار، کاسب، فنی او لوړ علماء او ادباء اکثره
دغه طبیعت لری، دا د خدای تقدیر دی چه دغه ساده ګان
د چالاکانو، تاجرانو او نیکانو د فعالیت دپاره د ځمکی
حیث لری. په ځمکه کښی څوك اغزی کری او څوك
ګلان، څوك د ځمکی په محصولاتو تجارت کوی، او
څوك و ځمکی دپاره په دې نامه چه زما وطن دی قربانی
ورکوی او ځان ور باندی وژنی. همدا رنګه چالاکان
هم د ځان دپاره ساده ګان لټوی. او که دا ساده ګان نه وی،
نو تاجران به په چا تجارت وکړی، او همدغه شان که دغه
د ساده ګانو ډله په دنیا کښی نه وای نو نیکانو او صلحاؤ
به د چا خدمت کاوه. ځکه چه چالاکان او تاجران پخپله
خپله چاره کولای شی، او خپله کښته له او بو باسی.
د ساده ګانو څخه ښکته او پورته ډله خلك دومره محروم،

بې وزلي او دزړه دسوي لائق نه دي چه سړی پرې وژاړي
لکه کونډه، يتيم ، مزدور، دهقان ، مالدار ، طالب العلم ،
شاعر ، اديب او فيلسوف ، دغه دساده گانو ډله چه له يو
غريب کاريگر څخه بيا دفيلسوف پورې يو لوی تعداد
تشکيلوي ، حقيقتاً دزړه سوی ، رحم اوعاطفې وړ دي.
البته خپل چارې اوتاجر هم دژړا وړ دي ، مگر په دې
عالم کښې دډېرو لويو ، لوړو او برگزيده اشخاصو
دپاره - او د امحض په دې لحاظ چه دوی دزړه د درد ،
اودخلکو دخدمت او انساني مينې او محبت له خونده
بې بهرې پاتې دي ، او د دوی له لاسه خير او نيکي يا نه
صادرېږي او يا دا چه بدې ئې پرې زياته ده . دوی يا بلا
بدله منفعت اخلي ، او يا ئې تل دنفعې اوضرر د بيلا نس
تله په لاس کښې ده . څوله يو من دا نو څخه يو خر وار
حاصل وانخستلې شي دغه شان تخم هيڅکله نه کړی ؟

کابل - ۱۳۳۶

✡✡✡✡

# په ټولنه کښې سوداګران

په دوه تیرو مقالو کښې له چالاکانو او ساده ګانو څخه بحث شوی دی . هلته داخبره ښودل شوې ده چه چالاکان یعنی خپل چاری ، او ساده ګان یعنی نا واقف خلک په اجتماع یعنی ټولنه کښې څه حیث لری . ددې څیړنې دریمه کړۍ تاجران یعنی سوداګران دی . له تاجرانو او سوداګرانو څخه زمونږ مراد دانه دی چه کوم خلک د تجارت او سوداګرۍ کسب کوی ، نو دوی څانته ګروپ ګڼو . بلکه دلته زمونږ مراد له سوداګر او تاجر څخه اجتماعی تاجر او سوداګر دی چه تجارت پیشه خلک هم پکښې کله داخلیږی ، که چیری رویه او سجیه ئې ورسره یوه وه . او کله ورنه خارجیږی او په بل ګروپ او ډله کښې ګڼل کیږی ، که چیری رویه او چلند ئې دهغوی د ډلې په شان نه ؤ . یعنی اجتماعی سوداګران مونږ هغو کسانو ته نه وایو چه د تجارت کار کوی . بلکه هغوته ئې وایو چه په اجتماع کښې له خپل چارو ، ساده ګانو او نیکانو څخه پرته یوه مخصوصه او بیله لیاره لری . هو، دغه عادت او خصلت والا به کله تجارت پیشه هم وی او کله به نه وی د بلې پیشې کسب او صنعت خاوند به وی .

د ټولنې سوداګران هغه کسان ګڼل کیږی چه نه دومره خپل چاری وی . لکه او له ډله وګړی ، او نه دومره ساده غافل وی لکه دویمه ډله ، بلکه دوی په اجتماع کښې داسې تګ کوی . او دغسې لیاره تعقیبوی چه هم

له اجتماع څخه استفاده کوی یعنی څه ور نه اخلی او ګټه کوی ؛ او هم په مقابل کښی څه افاده هم لری ، او څه ور کوی هم . دغه خلك سادګان ځکه نه دی چه دوی باور کوی چه د نیا دسودو زیان ډګر دی . نو ځکه د پیر لو په مقابل کښی پلورل په خیال کښی لری او د نیکی په مقابل کښی نیکی کوی .

دوی د نیا د اخذو جر ، ور کړې را کړې تیا دلې او معاملی او د «متقابل اخلاقو» جولا نګاه بو لی . دوی فکر کوی ، او خپل چلندهم ددغه فکر سره سمو ی چه که دیوی معاملی او روزګار ځواب په متقا بل صو ر ت ور نکړی شی ، نو اجتماعی نظام برهمیږ ی . یعنی که انسان د نیکی ، ځواب په نیکی ور نکړی نود انسا ن شخصیت سقوط کوی . او همدا ر نګه که بد ی په خپله اندازه په قصاص معاوضه نه شی ، نو د متعد ی جسار ت زیا تیږ ی ، او دهغه د بد چاری زمینه توسعه مومی . عفوه هم که د عجز په صورت وشی چندا ن مفید ه نه و اقع کیږ ی .

عفوه باید دقدرت او توان په وخت کښی وشی چه جانی او متعدی د احسان لاندی راشی او اخلاقی خجالت محسوس کاندی .

د پښتنو په جامعه کښی انتقام ، بدل اخستل ، کسات ، سیالی ، او داچه «هر پښتون من دی نیم من پکښی نشته» او د باجی او پور اصول ددغه فلسفی د تاثیر لاند ې دی . پښتا نه ځان وژ نی خود نیکی یا بدی پور چه دده په غا ړه دی . یادده په بل چاوی ، نه پر یږ دی همچشمی ، سیا لی

تر بور ګڼلوی هم دغبطی اورقابت په اساسو نو بناء اخلاق دی . هو ، ګڼه ګڼه کوم شخص دقوم داخلا قو داساسی مفکوری څخه انحراف هم کوی اوپه دی اواخرو کښی ورنه شخصی اوقبیلوی ورانیء او جنجالو نه هم پیدا کیږی ، خودا ددې وروستنی وخت مفاسد دی . دقومی روح فلسفه هغه‌ده چه مخکښی بیان شوه .

اودا وروستنی مفاسد هغه وخت په پښتنو کښې پیدا او ټینګ شول چه دمنځنیء ایشیا اقتدار د دوی له لاسه ولاړ اودوی دنورو قومو نو د خپړی لاندی پاتی شول . دغو پردو حکومتونو پښتانه وځپل ، وی‌وژل ، دښمنیء یی پکښی واچولی ، هریوئی دبل وینو ته کښیناوه خوار اوذلیل ئی کړل . ددوی په ټینګو قـو می اخلا قو اوروا یاتو اوحتی په‌دین اومذهب کښی ئی ورته ګوتی ووهلی ، اودا ګوتې وهل په‌داسی شان وو چه ساده او سپیځلی ملت پرې په‌ښکاره پوه هم‌نه شوا او که‌څوك پوه شو ، دهغو په خوله کښې ئی تیږی ټـکټ وهلی .چاکولی شول‌چه ددومره قاهره قوتونو په‌مقابل کښی قوم ته‌دملی او اخلاقی انحطاط څخه نجات ورکاندې . په‌دې لیاره کښی د افغان یعنی پښتون قوم‌مشران په هروخت اوحالت کښی غلی نه‌دی پاتی شوې ،اوپه‌یوشان دشانو نو او په یور نـګ ر نـګو نو ئی جهاداو کوښښ کړی‌دی ،مګر اکـثرو سرونه وخوړل چه د ملتا ن د ابو ا لفتح څخه داعلیحضرت محمد نادرشاه پوری زرګونه‌پښتانه میړونه دقوم دهوډ دپاره مړه دی.دښمنا نو چه دپښتون په‌خاوره باداری کوله نوګڼه راضی وو چه‌په افغانی جامعه کښی

ملی لوړ اخلاق پاتی شی ، نوځکه نی په مر ګک ز یا ر
کیښ چه قوم له خپل ملی آسمانی اخلا قو څخه تحت الثر ی
ته راو غورځوی . خیر ، دا به پر یږدو ، اوورو به ګرځو
خپل مرام ته : اجتماعی سودا ګران که افراط وکاندی
خپل چاری ورنه جوړ یږی او که تفریط وکړی نو دو ی
به له سادګانو څخه پر ته بل څوك نه وی . دا خلك ځکه
بد نه دی چه نه وړیا ګټه کول غواړی او نه دچا دغولو لو
فکر په دماغ کښی ساتی .دوی پوهیږی چه دغدر ، خیانت
او چال دام قوی وسله نه ده ، په دغه دام کښی اکثر دام
والا هم نښلی . زمانه کجرو شان تر آخره نه پر یږ د ی
او دقدرت لاس حتما" دغسی خلکو ته سزا ورکوی . که نړ
نو دنیا به ورانه وای .هر مس آخر ښکاره کیږی .په اصل
کښی دغه خلك چه مو نږ سودا ګران وبلل « متوسطین او
میانه روان » دی . دوی نه سیخ سیزی او نه کباب دا نصاف
تله ئی په لا س کښی نیو لی . خپل حق اخلی او د بل
ور کوی . نو که دوی ته مو نږ تاجران یا سوداګران وو یل
باید خفه نشی . ځکه چه انصافدار تاجر او سود اګر په
جوامعو کښی څومره لوی خدمت کوی :- دهری جامعی
فعاله طبقه همدغه خلك دی . که دغه طبقه وګړی زیات
شی ، نو خپلی جامعی ته ښه خدمت کولی شی .احتیاجات

او اړتیاوې ددغو خلکو په زیار لیرې کیږي. خو هر کله
چه د اعتدال نقطه د یو جزء لایتجزی حیث اري، یو خوا یې
چالاکان او بله خوا یې نیکان او محسنان واقع دي،
نو ځکه دغه طبقه هم د دواړو قوتونو د تلاقۍ د ټکي
غوندې حسابیږي. نو ځکه اکثریت نشي حاصلولای.
او که کله په جوامعو کښې دغسې طبقات پیدا شي ډیر
دوام نه کوي؛ او ژر له منځه ځي پس به وګورو چه
نیکان او محسنان څوک دي!                    کابل - ۱۳۴۶

✡✡✡✡

# نیکان او محسنان

وګړی په اجتماعی لحاظ مونږ په څلور وګړو پو ویشلی وو . خپل چاری ، ساده ګان ، تاجران ، او نیکان یعنی محسنان . ددریو اولو ډلو څخه په دریو مخکښی مقالو کښې خبره وشوه ، اوددوی خواص ممیزات او نخښی ونښو دل شوی . اوس غواړو چه نیکان او محسنان ونښیو : وګړی ګومان کوی چه نیکان بس هغه خلك دی چه دوی پټه خوله ، بېغرضه ، بی آزاره او مظلومان وی .

مګر نه ! بی آزاره خلك خوهغه خلك دی چه مونږ په ساده ګانو کښی ګڼلی دی . نیکان او محسنان هغه کسان نه دی چه په منفی صفتونو او عباراتو ددوی تعریف کیږی . نیکان او محسنان دبابا آدم داو لاد پوره او ملائکه ده . که دا ډله خلك په انسانی جامعه کښی نه وای او نه پیدا کیدلای ، نوژوند به سراسر تریخ ، ستغ اودزهرو ګوټ ؤ ، بیا به نو ددغسی ژوند څخه مرګ ډیر خوندور او مستریح ؤ .

ز مـو نـږ خـدا لـق جهان پیـدا کړ و په د ې جهان کښی ډیرښه او بد ، سپین او تور ، مضر او مفید ، خواږه او ترخه څیزونه پیدا شول . اودده قدرت وغوښتل چه دجهان ترکیب له متضادو اشیاؤ څخه وګاندی . په دې عالم کښې انسان هم پیدا شو . انسان یوه جـلا معنه نسخه ده . هـر هغه څـه چـه پـه ټـول عالـم کښی وو ، تقریباً هغه ټول ده په ذات کښی را غونډ شول . نوځکه پخپله د انسان په خټه کښی ز میني او

آسمانی ، ملکی او شیطانی ، نفسانی ، او روحانی ټول خواص موجود وو ، که یو خوا په دی نوعه کښې ځینې چاری کسان پیدا کیدل ممکن وو چه یې دځینې ځانی ګټې ، منفعت اومادی خوند څخه پی نور هدف نشته . نو په عین زمان کښې په همدی نوعه کښې دداسی کسانو پیدا کیدل هم یوه طبیعی خبره ده چه هغوی دخیر ، افادی ، دعالم دتعمیر او خوشحالۍ دپاره ځانونه وقف کړی وی ، زه یو هیږم چه ډیر خلك داخبره نه مني او هغوی وایی چه انسان هم دنورو حیواناتو غوندی یوزوی دی دده ټول حرکات او فعالیت په حب ذات ، اوډځینې ځان د پرستش په نقطه څرخ خوری . ددی عصر او زمانی دومره لوی علماء او فلاسفه ددی خبرې قائل او معتقددی چه سړی یې دنوم په اوریدو دتاثیر لاندی راځی ، او بیا نو ځینې فکر نه کوی . مګر دغسی ډیر قرون او اعصار په دی انسان تیر شوی دی ، اودغسی ډیرې دعلم پر ننګ کښې عقیدی باطلی او مزخرفی ثابتې شوی دی . چه یو هم له هغو څخه دانسان دشلم قرن دغه سو چه مادی نظریه ده چه انسان یو خالص لذت پرست او منفعت خوښوونکی حیوان ګڼی ، اودغه لذت اونفع هم هغه لذت او نفع ګڼی چه خاص وده ته راجع وی . ددغه نظرئی خاوندان دانسان دتاریخ ټول رجال ، حوادث او مسلکونه په همدغه تله تلی ، او په همدغه شان ئې تحلیل کوی دوی نه مني چه انسان څنګه دنورو دپاره بلا غرضه ایثار او فداکاری کولی شی ؟! داډیر اوږد بحث دی . ددی موضوع ټول دلائل او اسناد دلته راغونډول ګران او مشکل کاردی .

دا موضوع دومره مبسوطه‌او وسیعه‌ده چه‌لوی کتاب لیکل غواړی ※خوسره ددی ټولو خبرو بیاهم دومره ویل په کاردی چه‌که دانسان طبیعت همدغسی ساذ مادی اوخپل چاری وای ،او ددنیا دتاریخ ټولی انسانی وا قعـی فریبونه دروغ او مزخرفات وای ، نود انسان په‌فلسفه‌او ادبیاتو کښی به‌دخیر ، فضیلت ، ایثار ، فدا کاری ، عشق ، محبت ، مینی او فائده رسانی ء لغات اوکلمات څنګه موجود شوی وای !

که څوك ووایی چه‌دانسان په‌ژبه او لغت کښی خود شیطان او شریك الباری لغت هم‌شته ، او نـا ممکن هـم یولغت دی ، مګر دلته فکر په کاردی چه دشریك‌الباری او ناممکن لغات منفی تعبیرونه دی ، نه مثبت حقا ئق! خیر ، نیکی اوخوبی خود انسان په‌لغت کښی دیو مثبت حقیقت په صورت راڅرګ شوی‌دی . بـله خبره دا ده چه هر کله ومنوچه دانسان په‌نوعه کښی شیطانی طبیعتو نه اوهغه چه سراسر ځان‌غواړی ، اودبل په‌هیڅ ضرررسولو اړنه‌وی ، مو جودیدای شی ، نوځه مانع موجود ده‌چه یوخالص منور ، نافع اوفیاض انسان دې هم پیدا شی ؟ اګرچه له‌هرې خوا د نفی او اثبات دپاره دلا ئل پیدا کیدی شی ، خوچه انسان خپل ضمیر ته رجوع وکړی هیڅکله دخیر ، نیکیء ، عشق اوښکلا څخه‌ا بانه کوی . بلکه دغه حقیقت ته‌په سجده پریوځی ، دغه حقیقت چه کوم وخت جسمانی جامه واغوندی او دانسان په صورت را ښکاره شی ، نو نیك او محسن سړی ورته ویل کیږی . نیکی او احسان هغه ښیګڼی ته‌ویل کیږی چه‌دغرض په

※ به‌دی موضوع زمونږ کـتاب «نبوغ اوعبقریت» ولولیء .

ناولتیا کـکړه نه وی : ـ

دنیك او محسن دپاره دالازمه نه ده چه په سر به یی جوغه ولاړه وی . دایو طبیعت دی . اویو فطرت دی . دغسی یو شخص خو ند او مزه ا خـلی چه خلـك مسعو د خوشحاله ، مرفه او مطمئن وګوری . او دهمدغه عشق او خوند دپاره دده حیات او ژوند وقف وی . په خپلو ناکامیو ، آلامو او مصائبو کښی چه دنورو د سعا د ت دپاره وی ، ډوب وی ، خودی غواړی چه لږ نور عذا ب هم په خپل سر واخلی ، څوچه په خلـکو هوسائی راشی . دغه کار مکر ، فریب او ریانه وی . بلـکه دغه دده طبیعت شوق او اراده اوجبلی ذوق وی . ـ دی کـله د ځا نه سره ډیر ژاړی خودنورو دپاره ، او کـله هیڅ نه ژاړی . ځکه چه په عمل کښی دومره منهمك وی چه ژړا د پا ر ه وخت نه لری . دغه انسان دنورو غوندی ښکاره ظا هر ه خوځه دبزر ګی ښـکر و نه نه لری ، خو حقیقتاً دده زړه دوریښمینو دیو نری ویښته نه هم ډیر نرم ، ولی قوة او اراده یی دفولادو او الماسوڅخه کـلـکه وی . یومر ګ کولی شی چه دده دفعالیت مخه و نیسی بل هیڅو ك نه ! مګر دا نیك او ښا غلی انسا ن مر ګ یـو ه طبیعی او پیښیدونـکی واقعه ګـڼی . له مر ګه دومره نه و یر یږ ی

چه خپل وظائف او انساني ذوق او انسان پرستي دهغه له پاره پر یږدي یا پکښې اهمال وکړي. دښمني په دغه سرشت کښې نه وي هغه هر څه دنیکۍ دپاره کوي.

داسې هم نه ده چه دغه سړی ګناه نه کوي. داسې هم نه ده چه په ده باندې خلك اعتراضونه او انتقادونه نه لري. داسې هم نه ده چه دی دښمنان نه لري. داسې هم نه ده چه دی قهر نه لري. داسې نه ده چه دی دانسان د طبیعي خواهشاتو څخه خلاص وي. دغه شا غلی سړی خوري، څښي، اغوندي دنورو په شان کور کهول هم لري، قهر او محبت هم لري. خلك ورسره دښمني او دوستي هم کوي. خو دده معیار دنورو انسانانو له معیار څخه ډېر لوړ وي. دده دښمنان دغومره سرسخت وي، لکه دوستان یې چه وي. قهر او مینه ئې دنورو خلکو سره ډېر فرق لري خو چه ورته په غور وکتل شي، د ده ښه او بد هم دخلکو دکلاسیکي معیارونو سره ډېر فرق لري. ډېر کرته دغسې یو انسان دې دنیا ته راشي او بیرته لاړ شي، او خوك ئې ونه پیژني اودی هم موفق نشي چه په خلکو ځان وپیژني. داسې هم کیږي چه تمهیدونه کښیږدي او نتیجه ورنکړي. داسې هم کیږي چه انسانانو ته داسې کامیابي او ارمغانونه راوړي چه تر ډېرو نسلونو یادیږي او دده دکښینولو ونو لاندې خلك کښیني او میوې یې خوري.

دنیا کښې تغیر راغلی دی ، او نور به هم پکښې راشي ، مګر په دنیا کښې به دغه څلور طبقې خلك موجود وي هو ، دا انسانانو په سویه کښې به فرق راشي . داسې به وشي چه له انسانانو څخه به خود غرضي کمه شي . خو په عمرونو به خود غرضي ورکه نه شي . او چه څو پورې خودغرضي موجوده وي ، دغه خیر خواهان به هم پیدا کیږي . دنیا به د دغه فعل او انفعال په واسطه وړاندې ځي . دغه نیکان په کومه طبقه ، نژاد او مسلك پورې اړه نه لري . دغه یو انساني طبیعت دی چه په انسانانو تعلق لري ، داهم وایم چه دنیا کاپیتالیزم ته لاړه شي او که سوسیالزم ته ، جوامع قوي وي او که حکومتونه ؛ خو دغسې خلك به پیدا کیږي او دنیاته به خدمت کوي . منم چه داخلك ډیر نادر او نایاب دي . منم چه د دوی نظریات په سلو کښې سل نه عملي کیږي . ولې د دوی په رنګ کښې عالمونه رنګ کیدای شي . دغسې خلکوته نوابغ هم وایې او لکه څنګه چه د دنیا هر څیز قسمونه او مدارج لري ، همدغسې نبوغ هم قسمونه او درجې لري چه دنیا ورنه خالي نشي پاتې کیدای !

کابل : ۱۳۳۶ هـ ش

✿✿ ✿✿

# د اباسیند پښتانه

زه‌خپل هغه وروڼه‌چه‌د پامیر او همالیې د لوړو څوکو څخه د بحیرهٔ عرب د څنډو پورې دخیبر بولان ، بریکوټ او کوژک له‌ښکته د اباسیند څخه پورې راوورې پراته‌دي «د اباسیند پښتانه» بولم .

د اباسیند پښتانه د نورو پښتنو پـه‌شان د افغانـیت او پښتونولۍ په‌ټولو مزایاؤ او ښکلاؤ ښکلې دي په‌دوی کښې سادګي ، متانت ، غیرت او شهامت هماغسې موجود دي لکه‌چه د ټولو پښتنو خاصه‌ده . په‌خپل ملت او پښتونولۍ افتخار او غرور لکه‌چه د هر افغان د خټې سرهٔ اخښلې شوې شي دي ، د اباسیند پښتانه په‌دې خاصه کښې د هیڅ پښتون نه کم نه دي . ننګ ، میړانه ، همت او شجاعت لکه‌چه د هر پښتون میراث دي د اباسیند پښتون ته‌هم‌دا میراث له‌خپلو غیرتي نیکونو څخه له‌زړګونو کالو راپاتې دي .

استعمار چیانو او استفاده چیانو ډیر کوښښ وکړ چه د اباسیند پښتون د ننګرهار ، پکتیا ، کندهار ، غور ، هرات غزني ، شبر او د بلخ او د آمو له پښتون څخه وشلوی او جلا یې کاندي ، مګر او به په‌ډانګ نه بیلیږي ، د دغو بدو نیتونو خاوندان له‌منځه‌لاړل ، او ځي ، ولې پښتون هماغسې پښتون دی او د پښتونولۍ شعور چه څو موده په موقتې ډول غلې شوې ؤ ، د پسرلي د سیند په‌شان په‌هر وار د پخوا نه پورته چپې وهي .

دابا سیند ، پلمیر ـ هری ا و امو پښتون یو پښتون او یو ته‌بردی ، ددوی په‌رنګ، ونه ،قد قامت ، خوی خصلت اخلاق او نفسیاتو کښې هیڅ فرق نشته ، اوولی به‌وی ځکه دیو پلار دوه زامن ، دیوی مور دوه‌لونې دیوی کورنۍ دوه سری ، یوله خیبره کوز او بل دخیبر نه بر پروت‌دی.
هماغه مومند چه‌دلته دی هلته‌هم‌دی ، هماغه یوسفزی چه‌هلته دی دلته‌هم شته، همافه اڅکزی چه‌هلته اوسیږی دلته‌هم وجود لری ، همافه غر غوښتی بیتنی ، لـو دین «شینوا ری» اپریدی ، خټك ، غرزی ، درانی او بلوڅ قومونه چه‌دا باسیند په‌دوا ړو خواو کښې له کشمیر او او کلغانه ، تر بحیرهٔ عرب او سنده پوری پراته دی دلته هم له‌نورستانه تر هراته‌او له کند هاره تر بدخشانه میشت دی .

په دی کله‌کیږی ، چه‌له‌دی پښتون او دده‌له خاوری څخه دپښتو نولی عنوان په‌زور حذف کړی‌شی‌اوپه‌دی کله

کیږی.چه‌دا باسیند‌د پښتون په ژبه ادب او ثـقافت قیود کښیښو دی شی .

اودا یی کله علاج دی چه‌لر پښتون ته پټان وویل شی او بر ته افغان ، خوشحال خان څرسوه کاله دمخه و یلی دی :

د افغان په ننګك می وتړله توره
ننګیالی دزمانی خوشحال خټك یم

رحمان بابا دلر و پښتنو هم بابا دی اود بر وهم ، په شیرشاه باندی کوز پښتانه هم‌افتخار کوی لکه بر یی چه

پری کوی، شهاب الدین غوری ، سکندر لودی ، علاؤالدین
غلجی ،احمدشاه ابدالی ، نادرشاه افغان، سید جمال الدین
افغان ، او په آخره کښی اعلیحضرت محمد ظاهر شاه
مدظله خان عبدالغفار خان ، عبد الصمد خان
او شهزاده عبد الکریم د ټول لی پښتیانا یعنی تاریخی
پښتو نخوا دپاره ، دویاړ او سر لوړی نو مونه دی ! زما
بحث دا باسیند په پښتنو کښی دی زمونږ دغه خوابه وروڼه
چه دزمانی ناخوالورانه څه زمانه بیل کړی دی مونږ سره
بی ددوی دارمانونو دسر ته رسیدلو څخه بل ارمان نشته
ددوی هر آه وفغان، ددوی هر او سیلی او فریاد ددوی هره
چغه او ناره زمونږ په زړونو او ځیګرونو کښی د شلګی
او کټاری کار کوی. ددی ننګ اوغیرت په هیواد کښی به
هیڅ داسی فرد نه وی چه هغه به داباسیند دغاړی
دورور دقناعت اواطمینان نه پرته ځان کامران خوشاله
او مسعودو ګڼی .

دا بیله خبره ده ، چه دزمانی زور ، ډیر زوروردی او د
خدای په چارو دهیچا وسه نه کیږی . مونږ پوهیږو چه په
عصر او زمانه کښی د هرچا برخه شته صابران ، نیکان او
متقیان ، چه په خپلو اصولو ټینګ وی ، هرومرو خپل حق
اومقصد ته رسیږی او خدای پاک د نیکانو دښو اعمالو اجر نه
ضائع کوی .

اودهر عسرسره دوه یسره دی . او په سختی پسی راحت

راتلونکی دی. دا باسیند پښتانه پخپل تقریباً نیم قرن
جدوجهد کښی داخلاقو مسلك ملیت او سیاسی شعور
یو ډیر ښه معیار ته رسیدلی دی. دغه پښتانه چه ډیره
زمانه ور باندی خلکو دخپلو اغراضو د پاره لوبی
کړیدی، په خپله دغه مجاهده کښی ډیر ښه تربیه شویدی
او په حقیقت کښی دنوی تاریخ نوی پښتون، نوی قوم
او نوی پښتنولۍ پاخه اساسو نه ایښو دل شویدی.
دا باسیند پښتانه او بیا مخصوصاً هغه کسان چه په سیاسی
او ملی جهاد کښی ئی دلوی لار ښوونکی دسیوری لاندی
شپی ورځی تیری کړی، او په تماس کښی ورسره پاتی
شوی، دهغو ټولو په چال چلند کښی هرقسم همرنګی
او یووالی لیدل کیږی. ددوی مشترکه سجیه داده چه
خبری په ډیری نرمۍ تواضع او بی ساختګۍ سره کوی.
په جګ آواز عجله او تنده لهجه او سپوره وضعه خبری
کول هلته نشته، دمخالف او موافق سره خبری کول،
دآدابو اصولو او متقابل احترام داساسونو په مراعات
کیږی. تملق آمیزه لهجه، زیات القاب، تصنعی وضع
ټیټو پاس کیدل، ښکلول یاداسی نور اوضاع د هغوی
منځ ته نه دی ورننوتی. البته لطیف ظرافت د هغو په
صحبتونو کښی رواج لری. لیکن دظرافت نه هلته هزل

یادل آزاری نه جوړیږیدلی بیا هم داو ینا په کارده
چه هلته خلك ټوکواو مسخروته ډیر قائل نه دی !

کار او سادګی دا با سیند دپښتنو لویه ممیزه ده .
تل یو مفید کسب اوکار باندی مشغولیدل په خوراك ،
لباس ، ناسته ، ولاړه ، کښی دبساطت اوسادګی مراعات
دهغه ځای دښځو او نرو رواج دی . کمیس پرتوګ ،
یاخولۍ پټکی ، څپلۍ یا بوټونه چه واسکټ اوکرتۍ
ورسره وی ، خودوطنی او مخصوصاً لاسی صنائعو څخه
په وطنی ساخت اوډول جوړ شوی وی ، دا باسیند د پښتنو
دملی پروګرام جزء دی ، منم چه ځینی خلك هلته
دریشی هم اغوتدی ، مګر دشرافت معیار و طنی لباس
دی . څادر هلته دپښتنولۍ نښه ده ، او پښتانه یی له اوږی
نه غورځوی ، اکثره تعلیم یافته ځلمیان په تش کمیس
پرتوګ کښی هم ګرځی اودا هلته عیب نه دی ، هلته
په ښځو او لوڼو پیغلو کښی اروپائیت نفوذ نه دی کړی ،
په څپل کمیس پاجامه اوپوړنی کښی تاوی ګرځی ، ولی
په هر صورت لباس پاك اوپری مینځلی اغوندی . فیشن
هلته دمسابقی حدته نه دی رسیدلی . سګرټ ، چلم او
نور منشیات خو به وی ، مګر داسی نه چه چار و
ناچار باید سړی ور باندی عادت و نیسی که نه نو څوك

به یې سوسا ئټې کښې نه پریږدی! مونږ لوی لوی
پروفیسران او رسمي خلك وليدل چه کوټ او پتلون یې
نه اغوستی، او په وطني رنګك كښې به ګرځیدل .

د پښتو او پښتونولۍ مينه دخپل کمال حد ته رسیدلی
ده . پښتانه چه هرڅوك او دهر خیال خاوندان دی پښتو
او پښتونولي خپل مشترك ناموس ګڼی . خپله ژبه او
دهغې دپاره خدمت دهر پښتون د ملی شعور جزءشویدی .
داباسیند پښتانه پوه شویدی چه پښتو او پښتونولۍ ددوی
دټولو مرضو نو یوا ځنی علاج دی . ډیر علماء او
پروفیسران په دی عقیده دی چه ، محض علم او بیګا نه
تربیه چه دملی خواصو سره ګډه نه شی، انسان له محیط څخه
نا اشنا کوی، او دفائدی په ځای دجامعې په ضرر تمامیږی .
ادب هلته دغزل، ترانې او نظم له اندازې تیری دی،
دافسانې ډرامې او حیا ت صحنې ته ور ګډ شویدی،
هلته د پښتو لوی لوی شعراء او بلغاء افسانه نګاران او
ډار ماټستان پيدا شويدی . خطابت او تقریر خو پوره
ترقی کړیده . اوس سړی ویلی شی چه داباسیند د پښتنو
نهضت دسیاسی خام کوب له سرحده تیر شوی، د ملیت